

# دیاد په جزیره کښې

سهیل جعفر

# دیادپہ جزیرہ کتبی

سہیل جعفر

سکام ادبي اکیڈیمي کوئٹہ

۱۲۶ـ سي ، بلاک ۲ ، سیٹلائیٹ ٹاؤن ـ کوئٹہ

ددې کتاب ټول حقوق

حسن فارقلیط ،ظلِّ هما ، فنان تصور او زمان ضهیر

په نوم دي


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د یاد په جزیره کښې |
| نېټه | : | مئي ٢٠٠٤ |
| شمېر | : | ٦٠٠ |
| کمپوزنګ | : | عبدالله بلال |
| مطبع | : | یونائیټډ پرېس کوئټه |
| سرپاڼه | : | تمثیز ، حبیب |
| پس ورق | : | تنویر اقبال |
| اهتمام | : | افضل شوق ، محمود ایاز |
| تزئین | : | ډاکټر باقي درانی |
| بیعه | : | ١٥٠ روپۍ |

## سکام ادبي اکېډیمي

١٢٦ ـ سي ، بلاك ٢ ، سېټلائیټ ټاؤن ـ کوئټه

تړون

د " لالا " په نوم

چې خلک ورته سعید ګوهر وايي

بسم الله الرحمن الرحیم

# ترتیب


| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱: | اظهار | | |
| ۲: | سهیل جعفر او د هغه فني رنګونه | رحمت شاه سائل | ۳ |
| ۳: | یو سرسري نظر | ډاکټر راج ولي شاه خټک | ۳ |
| ٤: | دمینې د شاهجهان ـ تاج محل | سعید ګوهر | ۹ |
| ٥: | چې شرمنده وي په کردار | | ٤٠ |
| ٦: | اوس خو به ازغو، په زېړو پاڼو شاعري کوم | | ٤ |
| ۷: | ګلونو خلکو خېرې راوړې، په ګلونو باندې | | ٦ |
| ۸: | له ډېره وخته یو له بله نا خبر یو دواړه | | ۸ |
| ۹: | HAVE A NICE DAY | | ۱۰ |
| ۱۰: | شومه خفه، چې مې د سپین وېښته په لور اوکتل | | ۲ |
| ۱۱: | په سلوک دې زمې راغلو شاوخوا سور دسمبر هم | | ٤ |
| ۱۲: | ایره وجود مې اور، لوګي یا د هوا ته سپارې | | ٦ |
| ۱۳: | د صبر مېوې خوږې وې | | ۸ |
| ۱٤: | زه تنها یم | | ۹ |
| ۱٥: | ته هم په تا باندې مئین، په تا قربان هغسې | | ۰ |
| ۱٦: | راته اووایه | | ۲ |
| ۱۷: | دیاد موسم و، په کاغذ دغه تحریر جوړېده | | ٤ |
| ۱۸: | وخته | | ٦ |

| | | |
|---|---|---|
| ١٩: | خفه په دې یم چې تنها یم پښې | ٦٠ |
| ٢٠: | څوږ په کنلولې شي وير - سترګې به يې ګرېه | ٨ |
| ٢١: | اوس خو نو خداي خبر . چې ستا په تمنا تازه ته | ٠٠ |
| ٢٢: | مينه همه | ٠٢ |
| ٢٣: | ما اوسوي په سمندر د اوښکه | ٠٣ |
| ٢٤: | حال مو خراب د پښتوانې وېران کنډر غوندې ة | ٠٤ |
| ٢٥: | نه لرې کېدو . ځا په ازغي باندې لیکلې ة | ٠٦ |
| ٢٦: | جانان | ٠٨ |
| ٢٧: | په کمرې کښې چې رنا ٥٥ | ٠٠ |
| ٢٨: | تګ لا حاصل نه د ے ، پراو ګلونو باندې نود | ٠٢ |
| ٢٩: | STAGE DRAMA | ٠٤ |
| ٣٠: | باره ! نه پلونه ستا د پښو او نه غبار باته د ے | ٠٤ |
| ٣١: | د دار په سرهم که کېدے شي د ښتاحفاظت | ٠٦ |
| ٣٢: | ستا په یادونو ورځ شوه تېره . خم ، غمجن اودېږم | ٠٧ |
| ٣٣: | یو لمر د بېلتانه او بل غمونه ،کور په کو، | ٠٨ |
| ٣٤: | دا ستا په یاد کښې شوه جانانه ! زندګي ستړه | ٠٠ |
| ٣٥: | زه یم له جانانه خفه ورله . نه خرابې لتوم | ٩ |
| ٣٦: | همه خلک | ٤ |
| ٣٧: | تر ګل نازکه او تر سوات زیاته حسینه ځېږه | ٦ |
| ٣٨: | ګلونه | ٨ |
| ٣٩: | نه زه فرهاد شوم او نه ته ګلې ! شیریني غوندې ، | ٩ |
| ٤٠: | ساتم به داسې برابر ستا حسابونه تمام | ٠٠ |
| ٤١: | مانه د هجر شپه سهېله! خاطر جمع شوله | ٠٣ |
| ٤٢: | که بې یاره لیدل غواړې د ځا سترګه | ٠٤ |
| ٤٣: | ضرورت که د غم نشته اندېښنه څه | ٥ |

| | | |
|---|---|---|
| :٤٤ | LOVE MARRIAGE | ۰٦ |
| :٤٥ | نه چنبېلي ، نه د ګلاب ښکلو ګلونو په شان | ۰٨ |
| :٤٦ | حسرت ني باتي نه شو ، سجده مې د پېره وکړه | ١٠ |
| :٤٧ | چې مې اوښکې کهکشان شي ، د فراق په توره شپه کې | ١٢ |
| :٤٨ | حساب | ١٤ |
| :٤٩ | لېونې | ١٥ |
| :٥٠ | ښځې يو سترې ، لږ آرام پکار دے | ١٦ |
| :٥١ | څه پوښتې د سترګو حال ، حال به درته اوواې | ١٨ |
| :٥٢ | ما په ښېله هم لېدلې و تخسېرې د چا خيال ، نه | ٢٠ |
| :٥٣ | خپه | ٢٢ |
| :٥٤ | د زړه په خوا هجر به لاړ ، شاند | ٢٤ |
| :٥٥ | قاتل خو نې ، پېغور به څه درکوم | ٢٥ |
| :٥٦ | اے ښکلے يارہ ! دا وختونه سوردي ، | ٢٦ |
| :٥٧ | د ظلمتونو ، د اورونو ، د قتلونو خيے | ٢٨ |
| :٥٨ | نشته په مېنځ کښې مو تړون ، خبرې ولې کوې ، | ٣٠ |
| :٥٩ | دروغ | ٣٢ |
| :٦٠ | کله کله رانه هېر لې ، ذهن به وي ، احساس به وي ، | ٣٤ |
| :٦١ | چې کله شپه شي ، ستا د لورې راوړې باد ، کله ه | ٣٦ |
| :٦٢ | ستا په بېلتون کې اوس دغه حادثه ده کړ انه | ٣٨ |
| :٦٣ | ياد | ٤٠ |
| :٦٤ | تمنا | ٤١ |
| :٦٥ | قسمتونه چې د ببر علي دي ، پوهېږد | ٤٣ |
| :٦٦ | دا هم غم چې يې له تا دا ژوندکې کړ انه ده | ٤٤ |
| :٦٧ | ومې بانبلله خوالې خېله نازنينه خلکه | ١٠٦ |
| :٦٨ | ماته به داد راکوه ، | ٤٨ |

| | | |
|---|---|---|
| :٦٩ | وم د عمرونو په سفر ـــ پرېوته | ٥٠ |
| :٧٠ | زه د خزان بې رنګه ورځ ، نه په رنګونو آباد | ٥٢ |
| :٧١ | خواهشونه هم دېره شول، د آهونو په محلت کښې | ٥٤ |
| :٧٢ | ژوند | ٥٦ |
| :٧٣ | آخري اوښکه | ٥٧ |
| :٧٤ | صفا لیکلې ۆ تحریر ، زما په ورغوو باندې | ٥٨ |
| :٧٥ | دا به صحیح نه وي ، چې دوران وګړلو جــ | ٦٠ |
| :٧٦ | دا ستا په سر زه د وختونو سره وجنګېدم | ٦٢ |
| :٧٧ | VALENTINE DAY | ٦٤ |
| :٧٨ | انتظار | ٦٥ |
| :٧٩ | خـاردې ، شـمـه | ٦٦ |
| :٨٠ | حق هرګز نه لرم ګلي ، خو د زړه اداس دیاء | ٦٧ |
| :٨١ | خان کړېدلې ، د بېلتون په سره انګار غواړمه | ٦٨ |
| :٨٢ | ځنګه حبس وهلې زړه ته ، یخه هوا اوغواړ | ٧٠ |
| :٨٣ | نور هنر نه لرو ، د زړۀ به کوۀ | ٧١ |
| :٨٤ | زمونږ د زړو رونق ته خلکو ! بازارونه څه وه | ٧٢ |
| :٨٥ | زما د کرب و تماشې ته ، جهانونه دې لږ راشي | ٧٣ |
| :٨٦ | د دښمن دویم فریق یم | ٧٤ |
| :٨٧ | لېونې | ٧٥ |
| :٨٨ | هغه غمونه ، تلوسې ، هغه بې وسه ژوندون | ٧٦ |
| :٨٩ | رڼا مې نه اولیده ستا دجما! | ٧٧ |
| :٩٠ | تنها تنها تل اضطراب کښې اوسې | ٧٨ |
| :٩١ | که جنګ ازغو سره کوو ، نو څه د ګل حبشت | ٨٠ |
| :٩٢ | دعا | ٨٢ |

د لوی پادار په نامه

# اظهار

یو تخلیق کار اظهار غواړي او د اظهار ډېرې ذریعې دي ـ یو مجسمه ساز مجسمه جوړوي او په خپلو مجسمو کښې د ذات اظهار کوي ، یو مصور خپل پورټریټ کښې د رنګونو په ذریعه د ځان اظهار کوي ، یو پروډیوسر خپل پروډکشن په ذریعه د زړه خبره تر نورو پورې رسوي ـ دغسې یو شاعر شاعرۍ په ذریعه د خپلو احساساتو اظهار کوي ـ ما چې کله د عمر په زمانه کښې شاعري شروع کړه نو ما ته د خپل ذات د اظهار د پاره دا ذریعه تر ټولو ښه ولګېده ـ ما شاعري خو کوله ، خو دغه موجود شاعر به مې کله هم په خپلو تخلیقاتو مطمئن کېدو نه ، غزل یا نظم به مې ولیکلو او به تر هغه وخت پورې زما خوش ؤ چې بل غزل یا نظم به مې نه ؤ لیکلې دا سفر روان ؤ ـ ما به صرف شپږ کاله شاعري کړې وي چې زما په ژوندون کښې یو بل بدلون راغلو او ما په حیث د پروډیوسر د ریډیو پاکستان پښته د عملي ژوندون سفر شروع کړو ـ دلته د اظهار نورې داسې ذریعې میسر ته راغلې چې له شهرته ډکې وې ـ او زما ماشوم زړه په دې عارضي شهرتونو غلط شو او زه نې د شاعرۍ نه سوکه سوکه لرې کړم شروع کړم ـ زه اوس دا محسوسوم چې دا زما ډېره لویه بدقسمتي وه ـ زما تخلیقي ذهن به یوه ښه ډرامه پروډیوس کړه او د یو څه وخت د پاره مطمئن شو دغسې یوې ښې سندرې به یو څو ورځې ما ته سکون راوړو ، دا هر څه به د یو څو لمحو یا څو ورځو د پاره وو ـ ما به کله کله دا

محسوسوله چې د یو نه پروډیوسر نوم صرف تر هغه وخته پورې وي چې تر کومه هغه په مائیک راځي یا د هغه رغ په ریډیو باندې نشر کیږي. خو ددې احساس باوجود ما بیا هم ځان د دې خوشحوله سکون نه نه ... وایستو او ما شاعرۍ ته پوره پاملرنه نه کړه ور. بوه بله غلطه فهمي ... دا وه چې شاعري پکار ده چې په ژوند کښې شائع نشي. هر چا چې به ... ما نه تپوس اوکړو چې سهیله ! مجموعه کله شائع کوې، نو ما به ور... اووې چې دا کار زما د اولاد دے. که هغوی دا محسوسوي چې دا کتاب ... شائع شي نو شائع به ئې کړي او که هغوی دا ضرورت نه محسوسوي ... دېرو نورو شاعرانو په شان دې زما کلام هم ضائع شي. خو زما یو څو ملګر... او مشرانو چې له ما سره ئې د مینې یو داسې تعلق دے چې د دې تعلق ... تروړ تشریح که زهٔ کول هم اوغوارم نو شائد چې توري به کم شي، کاتعد ... ختم شي خو د تعلق، تروړ او مینې تشریح به نیمګړې پاتې شي. په دې ... محترم سعید ګوهر، محترم خبر محمد عارف، محترم عمر ګل عسـ... محترم درویش دراني او محترم مقدس خان معصوم داسې یو مونه دي. ... همېش به ئې زما حوصله افزائي کوله او ماته به ئې دا احساس راکولو ... نه خپل یو بېل انداز او اسلوب لرې. دا احساس زما د پاره د فخر وو. ... دغه احساس نن زهٔ د یو شعري کتاب د تخلیق کار په حیث تاسو ته مخ... مخ کړے یم.

د خپل ذات په حواله به دا اووایم چې زما په ژوند او زما د شخصیت ... جوړولو کښې دوې هستیانې دېر اهمیت لري. یوه زما مور او دویم سعید ګوهر. د دوې په حقله به دومره وئیل کافي وي چې که زما مور نه و... نو شاید چې جعفر به نه وے او که سعید ګوهر نه وے، نو بیا به شاید چې سهیل له تاسو سره مخاطب نه وے.

د خپلې شاعرۍ په حقله څه اووایم. زهٔ منم چې تنقید نګاران به زما ...

شاعرۍ کښې د يو خاص موضوع خبره کوي ـ زه د دغه موضوع په حقله پښتو يوه ټپه ليکل غواړم چې

مينې دې داسې پامنه دار شي
په مېړې پښه نه ږدم ، چې يار به تې پانه شي

دا مينه ده چې موږ ته دومره حساسيت را بخښي ـ دومره وايم چې ... موږ مينه عام کړو نو نفرت به له مينځه ووزي ـ بيا به نه د بارودو ضرور ... وي نه د اېټم بمونو ـ نه به فوځونه وي او نه به يو لوی ملک د ورو ... ملک استحصال کوي ، هغه د سعيد ګوهر خبره چې

خلوص عام کړئ ، سکون عام کړئ ، په کوټلو انسان تک ...
دے په وينه جهان تک سور ، کړئ به مينه جهان تک ...

دلته د خپلو يو څو ملګرو ذکر نه کول يا د هغوی شکريه نه ادا کول نه ... صرف بې انصافي وي بلکه بد دیانتي به هم وي ـ زه تر ټولو د محتـ ... محترم رحمت شاه سائل او د محترم ډاکټر راج ولي شاه خټک ډېره مننـ ... کوم ـ له دې سره سره د سائل صاحب په حقله دا اعتراف هم کوم چې ... هغوی شاعرۍ زما ډېره خوښه ده خدای شته چې زما ډېر خواهش و ... هغوی زما پدې مجموعې څه اوليکي ـ هغوی چې په څومره مينه زما ... کتاب ليکل کړی دي دا زما دپاره د اعزاز خبره ده ـ د کتاب په شلو صفحـ ... محيطه د هغوی دا ديباچه زما د ژوند ډېره لويه سرمايه ده ـ مختصراً ... دومره اووايم چې که سائل صاحب په يو صفحه صرف زما نوم ليکلے وے ... راستولے ئې وے نو ما به هغه هم د ټول عمر دپاره خوندی ساتلے وے ... ملګرو ته به مې په ډېر فخر ښکاره کولے ـ دغسې د ډاکټر راج ولي شا ... خټک صاحب د پاره هم زما په زړه کښې ډېر احترام دے او زه ئې ډېره ... مننه په دې وجه هم کوم چې هغوی زما د نه ليدو باوجود زما په کتاب ... څه ليکلو دپاره وخت راواېستو او په خپلو زرينو خيالاتو ئې زما دا کتاب ښائسته ...

کرو چې د لویو خلکو تخنبه ده ـ زمونږ تر مېخ دغه مینه هغه سرمایه ده چې مونږ لیکوالان ورباندې په لوړ زړه فخر کولی شو.

د خو نږدو نورو ملګرو مینه هم په دې کتاب کښې شامله ده ، په هغو کښې حاجي محمد یوسف خان ، افضل شوق ، محمود ایاز ، ډاکټر باقي درانی عبدالقدوس ترین ، رازق فهیم او فاروق سرور په خصوصیت سره د ذکر و دی که دا اووایم چې د دوی په وجه نن دا کتاب ستاسو په لاسونو کښې دے . نو غلط به نه وي.

د کتاب د سریانی د پاره د لور تمثیل حفصه او د ببك ټائیټل د پاره د نور اقبال د زړه له کومې مننه نو.

معلومه دی وی چې د قندهاری لهجې د ضروري لفظونو مساوی د تخلیق په پاڼې کښې ورکرے شوی دي ـ البته دلته دا وضاحت ضروري دے چې په دې لهجې کښې زما (د "وفا" په وزن) عموما زما (د "ستا" په وزن) وئیل کیږي او په دې مجموعه کښې اکثر ځای هسداسې مستعمل دے.

په آخر کښې ستاسو د دعاګانو په هیله دومره نور وایم چې زما لار بعدې دېره ضروري ده ځکه د کتاب په حقله خپله رایه ماته ضرور راواستوئ.

ستاسو

ستړګه په لار

سهیل جعفرکوهي

٤ ستمبر کال ۲۰۰۳

## په نوې پښتو ادب کښې سهېل جعـ

## او د هغه فني رنګه..

هغه ورځ راته ملګري افضل شوق اووې - "د اکبر سيال نه مې نمبر ت لاسـ کړو ، د سهېل جعفر کتاب مې ستا په پته پوسټ کړو - هغه کتاب چاپ کوې ، او د سريزه ليکلو د پاره ئې ستا سو انتخاب کړے دے" - په .. کښې مې وې باالله خبر - طبعي نازکي شوې دي - چرته دغلته خوله دا شو کړ به کړې ...

پيره بابا به دانګ ئې اد..

ستا نه تېرېږي خانګه بل بابا ته ...

کتاب چې راغے اومې سپردو ، نو د افضل شوق ، محترم ملګري سعيد کوه او سهېل جعفر خطونه پکښې وو - د کتاب نوم و "د ياد په جزيره ..

دلفظ یاد سره ماته خپله د کوټې روسی دوره را یاده شوه ـ کال مې ...
د ے چې کوم کال به ؤ ، البته د بندۍ په اوچتې کښې کښې چې ...
واقعه شوې وه ـ په دې کښې مونږ داسې ګېر شوی وو ، چې عزرائیل علیه
السلام مو به خپل سر الوتے را الوتے لیدلے ؤ ـ په دې دوره کښې زما سره ...
ملګری "محمد رازق ایډوکېټ " او "خیبر افریدے" وو مونږ د سحر په ...
مارټګر رسېدلی وو ـ محمد رازق د ډاکټر خالق زیار مشر ورور د ے او خیبر
چې مابه ورته د زړه نه خیبر استاد وې ، واقعی یو استاد ... ...
هېرېدونکے شاعر
مونږ د خپلو بلونګیو نه لوټ احستے ؤ چې مونږ به ترلرې لرې ګرځو ...
هغوې جار او تا جار وعده کړې وه ـ چې موټر اد کوټې والو په ژبه ...
کاډۍ) به درته ولاړ وي چې چرته مو زړه غواړی ، تلے شې ! ولې ...
چې زمونږ د قلم قبیلې خلک ، شاعران ، ادیبان زمونږ د راتلو نه خبر شو ،
ځنې منتظمانو ته پته اولګېده ـ او ځنې زمونږ د پېښور د شا او خوا ډاکټرا
وو ـ دغو ټولو ملګرو زمونږ مخې ته دومره پروګرامونه کېښودل چې زمونږ
زیارت ، ژوب او نورو علاقو د لیدو هغه خواهش ئې زمونږ نه اونړوړه ـ مونږ
فیصله اوکړه چې دا پروګرامونه به اوکړو او که په نصیب کښې مې وه نو
دغه ګرځېده به بیا او بیا
مونږ ته چې په دغه دوره کښې کومه مینه د دغه ځاې شاعرانو ادیبانو ،
طالب علمانو او هغو ډاکټرانو راکړې وه ـ ماته د ټولو ملګرو نومونه یاد ...
خو د دې وېرې نه ئې نه رانقل کوم چې هسې نه دچا نوم رانه پاتې ...
ولې د هغوې د مینې هغه نقشونه مو اوس هم په زړه موجود دي ـ په د ...
ناغلو کښې یو سړے سهیل جعفر هم ؤ ـ چې مونږ ئې ځاې ته غوښتي وو ...
مشاعره مو هم پکښې کړې د...
په دویمه دوره کښې راسره ډاکټر اسرار ؤ ـ ملګری مو د تېرې دورې د

نسبت کم لیدلي وو خو ملګري درویش دراني را سره تر آخره جنب وړي د
ما اوربدلی دي او خبره دده هم دغسي چې څوك هم د دې خاې نه توه
تـه تلي د ے نو هلتـه ئې پـه ریډیو او ټیلي وژن کښې خانخا څـه پروګر
تـه رابللي د ے خو لکـه چې مونږ یا زیات ګنهګار خلك وو او یا زیاتو ګنهګار
خلکو پـه بلنـه دغلتـه تلی وو - حال دا د ے چې مونږ تـه چې کوم اطمینان
هغـه تراوسـه موجود د ے . د دغسې خبری ذکر کومـه ګیلـه نـه ده - بلـ
مونږ تـه پـه خپل قسمت ناز د ے - مونږ تـه د دغو ملګرو د مجبورو احسـ
پرون هم ؤ او نن هم - د کوټې د شاعرانو ادیبانو رول د پښتو ادب د با
زما تر نظره تاریخي رول د ے - دغلتـه دوه پښتو عالمي کانفرنسونـه شوي د
زه دوارو لـه نـه یم تلې - ځکـه چې دومره لرې تلـهٔ زما د وسـه نـه دي خو
سو د هغوې د بې طرفـه فیصلو اندازه د دې نـه اولګوئ چې دواړه ځلـه
زهٔ پـه ایواردونو هم نمانځلې یم - د هغوې د پروګرامونو نـه د راټولي سر
شوو مقالو یو کتاب "وینا ګانې" هم د چاپ پـه صورت کښې نن هم زما
لائبریرۍ کښې موجود -

اوس بـه راشو د غرض خبرو تـه - زهٔ د نثر لیکلو پـه قوانینو او لوازماتو
پوهېږم - زهٔ پدې هم نـه پوهېږم چې زما سریزه بـه د سریزې روایت بو
کوي هم کـه نـه؟ بس پـه دې پوهېږم چې پـه کتاب سریزه لیکل د نني نثر
دنیا یو ژوند ے او مینـه ناك روایت د ے . ځني ډېرو ذمـه دارو خلکو هم پـه د
موضوع ګیونـه لګولي دي چې ګني څوك چې پخپل کتاب چا نـه د سریزه
لیکلو دعوت ورکوي . نو دا ګني د هغـه نـه خپلـه ستائینـه غواړی خو زهٔ خپله
دې ګپ تردید کول یو خپله ادبي فریضه ګڼم زما ذاتي خیال دا د ے چې
شاعر چې د کتاب پـه وخت د چانـه د سریزې غوښتنـه کوي نو دا پـه اص
کښې ځان بل تـه سپارل دا د یو مصنف حق جوړیږي چې هغه د بل نـه خ
واوری ، تعریف هم د هغـه حق د ے . یو دا چې ، لوی وي هغه خلك

Pukhto.Net

خپل خیال په خپل ځان کښې پټ نه ساتي او خپلې ټولنې ته ئې د پیش کو
هڅه کوي . دغسې انسان که في الوقت وړوکے فنکار هم وي - ولې هغه د نم
عمل بوه جذبه هم لري - دویم مصنف نه یوازې ځان خپلې ټولنې ته د لو
دپاره پیش کوي ولې بل ته د ځان سپارلو جرأت هم کوي - او دا جذبه ... هم
ثابتوي چې یو شاعر خپل انفرادیت په خپل اجتماعیت کښې د ورکو
څومره توان او حوصله لري ؟ دسریزې مقاصد هم دا دي چې یو دائم ...
لیکوال د لوستونکي او مصنف ترمنځه ضروري رابطه پیدا کړي - د نو
ادب دنسه ئې د هغه د نوؤ تجربو او نوؤ رجحاناتو سره اشنا کړي نوم ...
زمونږ د نن دور ادبي، ثقافتي ، روماني اوروحاني ضرورتونه ...
زهٔ چې د پښتو د کلونو کلونو په زړهٔ چاودون خوارهٔ فني تخلیقات را په ...
کړم او د پښتو ، مینې او ژوند سره د دوې وفا او فکري لیونتوب ته اوګورم ،
د روح په سوې لوې دښته کښې مې د پښتو ددې بې خیال د لویتې هسې ...
سر سایه سایه ، او سوری سوری اوغوریږي . او د روح او وجدان په ورېښ...
کښې مې د یوې غمژنې سندرې هسې اوعریږي ...

د مینې یو تولکے عالم ...

دیبلتانهٔ سره د شام پسورې قوحه

خو د مینې او ژوند ، شعر او تصویر د روزنې او پالنې سره وابسته دغه ...
" تولکے عالم " په لږو کښې څومره ډیر د ے - څومره قوي ، غمي او د تو...
او حوصلې نه ډک "عالم" د ے - او څومره ژوند زیږوونکے او بیداروونکے "عالم"
د ے . یو یو چې په کومه لار ځي - په کوم لور ځي نو د "اندېښ" په ...
جې

وې مې چې هر څواته دې کاته اوز...
وې ونیل چې ما د ښکلا کړ ...

د مینې او ښکلا د تخمونو دغه کروندګر ، د ژوند او وفا دغه لیونې وا...

ښکلې ښکلې د زړګوټو او لکونو کلونو دغه فطري فني امانت د خپلو سترګو په ک
کېنې ساتي او په څومره فني کړاؤ او د فن په تازګو کوټو د دغې مينې د نحو
سر ښه کوي او د دغه تصوير د کوباتي نه ښکلې ښکلې رنګونه ، ګلونه ، سپرې
او تماشې پېدا کوي او څومره څومره خلک ورسره اشنا نو.

نه ونيل کېدو داسې تحرير ؤ د سهيل سه
ښکلې ؤ کاغذ ښکلې سياهي باندې ليکني .

حقيقت دا دے چې زمونږ د لوستونکو مثال د هغه تماشګير دے چې د ګ
حسن خو لېدلې شي خو د ګل په زړه چاودون نه دے سب
مونږ که د انسان په ژوند ژوالك او د مينې په تاريخ نظر واچوو نو خپل د زړګو
لکونو کلونو تاريخ به راته د خپلو محروميو او غمزنو ساندو تاريخ ښکاره شي
يو مفکر وائي چې مونږ له ښکلي انسان نه په وحشي ونيلو کښې لې احتما
په کار دے چې مونږ د دغه وحشي نه ډېر څه زده کړي دي ـ مونږ له د خپ
سکولونو ، کالجونو ، لائبرېريو ، اليکټرانك او پرنټ ميډيا او تهذيب او تمد
په شا بې حسابه قتل ګاهونه هم هېرول نه دي په کار ـ په دغو قتل ګاهو
کښې نن هم مونږ لګيا يو خپلې قرباني او په لحظه لحظه قتلونه شريکوو . او
شريکو جذبو د اظهار د پاره د يوې فني لارې لاروي هم يو ـ زمونږ د نو
نصيبونه ئې په داسې کاغذ او داسې سياهي ليکلي دي ـ چې وئيل ئېږي ، ن
يعني څوك ئې لوستلې نه شي ـ او يا مونږ ترې ناخبره يو ـ ما به د سورنه په
خبره اورېده ، چې خداې خبر دغه خبره په زړه څومره وي چې بچې بد
شي نو مور او پلار ئې د تقدير نه نه وي خبر چې ده ته ئې په تقدير کښې څ
ليکلي دي ! ـ خو دغه نثر پاره او د هغې هو بهو مطلب زمونږ د دې دور د
شاعر ښکلې په فني جامو ښائسته کړے او څومره ئې لازواله کړے دے ـ شا
سوال ابنود ے دے بايد چې مونږ پرې فکر اوکړو چې دا چې مونږ د پېړ
پېړيو راسې په دې عقيده يو چې کښې زمونږ نصيبونه داسې ليکلي شوي دي .

لوستل کیږي نه ـ خو ګنی دا حقیقت دے . که داسې نه ده نو بايد چې مونږ
ټول سترګې پېدا کړو او دغه نه لوستې کېدونکې تحريرونه اووايو زمونږ د ځنګل
انسان ته هم دغه مسئله پېښه وه چې هغه به اوږے شو ـ نو د غوړه مېوه دانه به
پېدا کوله او هغه نې خوړه ـ خو په دغه دانه به هيڅ تحرير نه ؤ ـ نه به لوستل
کېده . او اکثر به نې داسې زهرجنه مېوه اوخوړه ـ چې د ے به نې مړ ترو چې
دغه مرګ ده له داسې سترګې ورکړې ـ چې دغه نه لوستونکې تحريرونه
اولوستل ـ او نن چې دا مونږ کومې سترګې لرو دا هم هغه سترګې دي ـ نو
چې ماته د خپل مرګ په بدل دغه وحشي او ځنګلي انسان راکړی دی ـ نه
نن زما يو شاعر د خپل نصيب د تحرير د نه وئيل کېدو خبره تر ما را رسوی . نه
دې مطلب دا نه دی چې پوه نه د ے د هغه د نصيب تحرير نه وئيل کيږي بلکه
دا وئيل غواړی چې دغه کاغذ څه د ے ؟ ځنګه د ے ؟ سياهی څه ده ؟ ځنګه ده
آيا دا مونږ نه شو معلومولے .

"راځئ چې د تندو دغه سپېره ليکلې وران کړو"

هم دا د ژوند ، جذبو او فن لوبه ده ـ هم دغسې ګرمېږي ، هم دغسې توديږي
او توده به ساتل غواړی مونږ ته يو فنکار څه راکوی ؟ څه چې راکوي ،
مونږ پرې هغه څه نه شو اخستے نو دا به داسې وی لکه چې چا وئيلي
دي چې

مينه دې سيند راته بهيږي
مئينه ياره ! زه د تندې يګښې مره

بايد چې مونږ د خپلو فن پارو رنګونه محسوس کړو . بايد چې مونږ د خپ
تصويرونو رڼاګانې سترګو ته کړو ، که زمونږ احساسات مړه دي سترګې مو ليدل
شي کولے نو راځئ چې احساساتو له ژوند ورکړو او سترګو له ...

ترګل نازکه او تر سوات ښائسته حسينه څه
خدايه ! د زړه تبارو ته را يو ماه جبينه څه

ما چې د سهیل جعفر دا شعر ولوستو نو د دۀ د دعا د ارمان په آئینه کښې مې د ټولو پښتنو د ټولو پښتنو د بې وسو ارمانونو مخونه اولیده . او ورسره ورسره مې د سوات ښکلا ګانو ته هم نظر لاړ ، په کلدرو پړېوتو د غرونو او واوریو څوکو تاؤ را تاؤ شو . د مالاکنډ نه اخوا د ځلوځکان په ځاے اودرېدو دسیند په دواړو غاړو د" بدها " (سدهارته) د پېروکارانو د کنډرو ، ورانو شوو ستېچوګانو والوتو راوالوتو — د زړۀ نه مې ، د خپل محنت نه د راټول کړے شوي تاریخ د وبجاړی او سوزېدو . ورانېدو لوګې سیے اوواتو . ولې دوباره مې دغه درد ، دغه سوے ، دغه خوږ ، دغه پرهر سوات په واوړو کښې په راټوکېدلو ګلونو کوشېر او پیوند کړو او د خان سره مې اووې د دې خاورو ، په غرونو ، په چینو ، او هوا ګانو کښې د مسیحائي څومره توان پټ دے ؟ د سهیل جعفر دغه یو شعر ماته د خپل خوږ وطن په هر خه حواله کړه او زۀ ئې دغه برخې ته او سبارلم او تصوراتي طور ئې په دغه یو برخه دنیا یا وطن تاؤ راتاؤ کړم . نور مې هم ډېر څه اولیدل . دلته مې حسن اولیدو ، مینه مې اولیده او د ژوند توری ډېرې تماشې مې هم اولیدې . د بریکوټ سره نزدې مې هغه کلے هم اولیدو . نوم چې " بدها " دور نه هم ډېر مخکښې د " بازیره " په نوم آباد ؤ . او اوس کنډرو په شکل کښې راکښتے شوے دے . د بریکوټ سره نزدې مې د "بدها" هغه غټه مجسمه هم اولیده . کومه چې په یو لوټې کمر کښې جوړه ده او زمونږ لیونو ماته کړې ده . مرغزار ته لاړم ، د ملم جبې په لاره د "بدها" هغه غټه مجسمه مې هم د لرې سړک نه اولیده کومه چې په یو بورتې کښې په داسې خاې کښې جوړه ده چې نه ورته د مټ غوټکې ورسي او نه ورختو څه لار شته ، نو لا جوړه پاته ده . ملم جبې ته لاړم . مبادم مې اولیده په کالام کښې او ګرځېدم . دخوشحال د نوم دغه اورېدلے شعر مې . هم یاد شو چې

چې د سوات مرغه زرين ئې په نظر شي
د خټک تنزرې چغه کړه فقير شي

او د سوات د يو کلي د يو ماشوم شاعر دې شعر مې هم په زړه حمل اوکړې چې وائي

زۀ کلي وال وم د غزل په مطلب څه پوهېدم
سوات او جانان دومره ښائسته وو چې شاعرئي شوم

په هم د ې سوات کښې يو ځل مشاعره وه دغې مشاعرې ته ډېر کن وال راغونډ شوي وو . او ډېر په حساس نظر به ئې مونږ ته کاته ، ما يو ملنګ ته غلي شان اووې - په دې ورو کښې به څومره شاعران وي . چې اوس ئې مونږ ته پېژنو - کله چې ما ددغه ماشوم شاعر دغه شعر واورېدو نو دده دليدو شوق مې پيدا شو - په به شعر کښې د ابلاغ څومره لوئ زور وي - او خپله يو سند مې هم په زړۀ شوه چې دغه تصور ما د خپلې بوډۍ ډېرې زړې " دره لړيزې " نه اخستے .

نرګس ليکلے خط ستا په نامه ګل قاشې قاشې
ګلونه به په توره ځبله سپرم سوات ته راشي

نو که سهېل جعفر د ګل نه نازکه او د سوات نه حسينه څهره غوښتې ده نو مونږ ته ئې د "درخو " نو ے تصور هم رابخښلے د ے - سهېل جعفر په يو نظم کښې وائي چې " ماته به داد راکوي

واورئ اے ښکلو خلکه
د خوشحالي په ښو رنګونو ښائسته مخونو
ستا سو په ميان کښې ځنګه ښکارمه زه
بې رنګ ، د وچو زېړو پاڼو په شان
منمه ، بد به ښکارم
خو ښائسته مخونو

واورئ چې څنګـه تـبـروم وختـه،
لـه توري شپې نـه تـر سحـاره پوره
بيا لـه سحار نـه تـر مابنامـه پورې
څومـره لمحې ، د دوزخونو پـه شان
زما پـه وجود تـيريږي
لامـده خواږه پـه اوښـ
هـره غـ
هـر يو مابنام ، تـر حلقـه زه تيرو
پـه داسې حـال کښې بـه څوك ژوند تيروي!
اے پـه رنګيځ کښې ژوندی ښکلو خـهره
اے پـه خنـدا ياندې مرو ، په ښادی ښادو خلکه
ماتـه پـه داد راکو
پـه څومـره صـ
پـه همت
پـه حوصلـه ښکلوکـ
ستا سو پـه ميان کښې ژوند
ژوند ے يم ، ژوند تيرو
بې خونده ، ژوند تيرو

کـه سهيل جعفر د داد جوګـه وي نو راځئ چې شومنوب او نـه کـړو او دا
ورکـړو ـ پـه اصل کښې د حسن ، مينې او فن د دنياګانو دود اودستور د
عجيبـه د ے ، دلتـه د فن کار مثال د ډيوې د ے چې پخپلـه خو سوځي
نوروتـه رڼـا ورکوي ـ چرتـه چې مينـه کوي هلتـه داد نـه مومي ، او چـرتـه
د فن مجسمې تراشي هلتـه بې قدري ډيـره وي ـ ما مخکښې پـه خپلو ابتدا
خبـرو کښې ونيلي وو چې مين او لېونی فنکاران د انسانانو د زړګونو او لحو

کلونو او ښېرو د مینې د ژوند هغه وارثان دي چې دغه امانتونه په خپ
سترګو او سینو کښې پالي ـ په خپلو نوو فن پارو کښې ئې تاوې کوي او سنګ
کړي ئې خپلو راتلونکو نسلونو ته سپاري ـ دغه نه ختمېدونکې سلسله رواڼه
ده او هم دغسې به تر قیامته روانه وي ـ په دې کښې شاته یو راز یا د
حکمت هم پټ دے چې که یو تخلیق کار او نه سوځي نو یوه سوی فن پاره
په وجود کښې څنګه راتلې شي

کالے د سرونه هله جوړ شي
چې په اور ویلې شي بیا اوخوري ګزاره

او رحمان بابا وائي چې

دا مثل دے چې د درده زیمرګے حیژ
کښې څه وو د رحمان د شاعري

د فن دنیا د تول او تللو، اخستو او خرڅولو دنیا نه وي ـ زه د سهیل جعفر د
کتاب د اخستو سفارش نه کوم، نه خو هغه د کوم مال خرڅونکے دے او نه
زه د سوداګر او مالک تر منځه دثالث کردار ادا کوم ـ دا د سود، زیان او
ښېو بازار نه دے ـ دا د خوبونو، خیالونو، رنګونو، ګلونو او خالونو بازاره
دي چې سوداګانې پکښې د زړونو، سرونو، جذبو، احساس او وجدان
بدل ممکنې دي ـ په دې بازارونو او دې دنیاګانو کښې ستې، هم ممکنې ده
خو خرمستې پکښې نه کیږي ـ خو فن او شاعري چې مونږ ئې دېرو ښې
راسې په خپله جادوګره غیږکښې اخستې یو ـ دا څه خبر دے؟ نو دا نو
عادي وجود نه لري، دا د درد او درد د کیفیت نه پیدا شوے هغه تصور
دے چې زمونږ خیال او فکر ته نوې نوې دنیاګانې ښيي

شاعري څه ده؟ دا د اوښکې د اظهار یوه داسې ذریعه ده چې خان له
فني وجود خوښ کړے دے او د شاعر نه د خپل وجود د فني رغونې غوښته
کوي..

شاعري د سپرلي د ګلونو او رنګونو د يو داسې ځپې نوم دے چې د احسا
په باريکه ورشو د پرهرونو ، د ګلونو غېږې ، فکر و نظر ته اوغوروي . او د
پرې د خوشبو يو لمبه لمبه ساللو خور کري . او د تماشګير تول کښتونه .
د وجدان تول علامتونه د فطرت د شرابو په نشو کښې اولمبوي او روح
طور ني سېراب شي .

شاعري د ژوند زوال او مينې د علامتونو يو داسې صنم خانه ده چې د زما
او حالاتو نه مرور تماشګير مئين د مينې د کور کلي نه لرې د هجران ا
فراق په اور سوے لوے ناست وي ، فکر کوي او ناځاپه ورته لکه چې خ
جانان په دوو ګوتو په مخ وره غوندې تتوره ورکړي . او د دې دننه په سوو
په زړګونو مرور حقائق يو بل ته ورغاړه وزي او د يے هم د دې ځای نه مينـ
سر دوباره شروع شي .

که خبر نه ني خان خبر که په زړه
خوبونه نور او تعبيرونه نور ده

شاعري د تخليقي مينې د يوې داسې فن پارې نوم دے چې مونږ مايوسه
نه ورکوي ـ او د ژوند د نوې شعور رڼا ته مو سپاري .

شاعري د ښښاوو په خوراک پابندلې هغه سندريزه اعلان نامه ده چې د م
چا په شور کښې لکه د ښښياوو خوږه خوږه غوږېدلې ده ، هر ځوله يې
ښښاوو د خوږو سره اشنا کړے دے ـ هر خوله ني د وهم د کندې نه را
کړے دے ـ د ښښياوو د سپرلونه جوړه يوه لويه دنيا ني ورته سپارلې ده
دغه حقيقتونه ، صداقتونه ، او تصويرونه لکه د هر حقيقي فنکار تخليق
کار ـ د سهيل جعفر په شاعرۍ کښې هم مونږ محسوسولے شو ـ دا
ښکاري چې سهيل جعفر په هم دې فني لار کښې ډېر مزل کړے دے ـ د
لوښربدلے توږمېدلے دے ـ شايد د نن باخبره انسان هم نه دے خبر ، چې
انسان د وجود دننه د زړګونو او لکونو په تعداد کښې څومره واړه واړه زخمو

او رڼبي دي ـ دغه هر څه ، څه څه کار کوي څنګه څنګه ئې کوي او د
څه څه وخت او حالاتو کښې ئې کوي ـ د خارج پرې څه اثر کیږي ـ او د
اندرون کښې د کومو کومو محسوساتو او کیفیتونو نه تضادات پیدا کیږي او
تضادات کله ، څنګه او ولې وحدت پیدا کوي ـ او د وحدت په نتیجه کښې
ددغه هر څه شریك عمل نه کوم مسرت اوخوشحالي حاصلیږي ـ او دا
خوشحالي د یو سړي په ذات کښې محدوده پاتې کیږي او که نه ـ دا
انسان څوك فنکار هم کیدے شي ـ دغه هرڅه ته یو صورت ، یو شکل ، او
تصویر هم ورکولے شي او که یو صورت ، یو شکل او تصویر هم پیدا کوئي
نو دغه تصویر د دې جوګه وي او که نه چې مونږ هم پکښې شریك شو ،
هم د دې قسم سوالونو پیدا کیدو نه پس چې کله مونږ د ملګرې سهیل
جعفر آئیني مخ ته کړو ، نو زړه کښې چې دغه ائیني دومره ښکلې ، رڼې او
روښانه دي چې زمونږ هر پیدا کړے شوي سوال ته ځواب وائي ـ په رڼو
سترګو ، په خندا خندا راځي چې هم دلته د سهیل د فن بوه آئینه مخې ته
کړو چې وا ـ

یا ګلاب یم یا خوشبو یم ، یا سپوږمۍ یم یا رڼا یم
څومره ډیر خوبونه وینم د رنګونو په محلت کښې

دا شعر د فن د لحاظ بوه داسې سحرکړه تماشه ده چې کله ورته مونږ
ګورو نو فنکار تري هم د منځه اوخي مونږ پخپله کله ګلاب کیږو ، کله
خوشبو ، کله سپوږمۍ او کله رڼا ، ځکه چې مونږ پخپله هم ټول عمر
رنګونو په محلت کښې خوبونه لیدلي دي ،
ولې مونږ که د دې شعر د معنوي ښکلا وسعت سپړل غواړو ـ نو داسې
اووایو چې مونږ د زرګونو لکونو کالو د تحقیق او تجسس ډیوې په لاس د ژوند
دهر توکیدلي ارمان سر کولو د پاره په څومره شاړو شدیارو ګرځیدلي یو ـ د
ټولي کړې کامرانۍ مو خپلو راتلونکو نسلونو ته سپارلي دي او دخپلو ناکامیو

Pukhto.Net

نـه مـو نورې رڼاګانې بلې کړې دي يوازې مونږ نـه زمونږ پلرونو نيکونو هم
د رنګونو پـه کلي محلت کښې ډېر ډېر خوبونـه ليدلي دي ـ دغـه خوبونـه
شـډل بـډل هم وو ، ولې پـه خوبونو ليدلو کښې چې کوم ژوند وی دغـه
هـر څو شـډل والـے هم لـري ـ چې کلـه د فن پـه جامو کښې او نغښتے شي
باريکي هم پيـدا کـړي ـ او حسن هم ـ ولې زمونږ فنکار چې د بو روزنې تهذيب
او تمدن د زمـانې فنکار د ے څکـه دا شعور هم لـري چې کـه د هغـه د خوب
ارمان شـډل د ے نو ښائست او باريکي پکښې څنګه پيـدا کيـد ے شي؟ او
تريخ د ے نو خوږېد ے څنګه شي ؟ د پښتو يوه تاريخي ټپه ده چې وائي

د امبيلې پـه کامبيلو ...
غازيان وراستـه شو ، د لونګو بوي نـري ...

دا قاعده ده چې مړي ورستيږي نو بدبوئي پيدا کوي خو زمونږ فنکارو خوښېدو
ميانندو چې خپل دغه غازيان تصوير کړي دي نو دومره ئې تازوي چې مونږ
ئې د لونګو په خوشبوئي کښې نغښتي راسپاري او څکه نو د سهيل جعفر
رنګونو په محلت کښې خوبونه داسې راځي ، موسکي او حسين ښکاري چې
خوب ليدونکي ته څان کله ګلاب کله خوشبو کله سپوږمۍ او کله رڼا ښکاري
شي ـ او دغه تصور چونکه هسې خبرې نه دي دا په بو فني وجود کښې تر مونږ
را رسي او مونږه ئې داسې قبلوو لکه چې زمونږ وجود پکښې ورک شي يا د
تصوير زمونږ د جذبو او کيفيتونو د وجود برخه شي ـ دی ته مونږ زور او جبر هم
ونيلے شو او د اندېښ په قول په ئې نور وضاحت داسې او س

چې شـه ستـا ښـائست خو د زور کڼے
ډېر که مې تـرې څان ساته خوئيږ ...

ملګرے جعفر يو بل شعر وائي

يـاره نـه پلـونـه ستا د پښو او نـه غبار پاتـه د ے
زما پـه برخـه اوښکې اوښکې انتظار پاتـه د ے

د شعر فني رغونه او د لفظونو ترون چې څومره غنائيت په شعر کښې پېد

کړېدے ـ هغه د دې په معنا د پوهې نه بغېر هم مونږ د ځان سره تخنو

شي ـ ولې کله چې مونږ د معنا د لحاظه د دوارو مصرعو تعلق ته ګورو نو ...

ذهن کښې يوه خلا غوندې هم محسوس کيږي ـ هغه دا چې فنکار په رومبۍ

مصرعه کښې د کلک يقين سره وائي چې نه دې رانه پلونه پاتې دي، نه

پښو ګرزونه خو په دويمه مصرعه کښې بيا هم د انتظار خبره کوي ...

اوښکې اوښکې انتظار خبره ـ نو سوال دا دے چې ... د رومبۍ مصرعې ...

دغه يقين موجود دے نو بيا اوښکې اوښکې انتظار د څه ؟ ما دا خبره ...

اوکړه چې کبدلے شي د چا لوستونکې په ذهن کښې دغه سوال پېدا ...

ولې بيا هم لکه ښه شعر چې په سرې خپلې تولې معنې نه ظاهروي ...

د مينې فلسفه هم ده چې لوستے خو شي خو کوم منطق ته لرې يعنې دغه

په هېرولو د هېرولو يقين ممکن نه وي يا به داسې اووايو چې لکه د ...

شعر مينه او حسن هم په سرې خپلې تولې معنې نه ظاهروي څکه نو ...

اوښکې اوښکې انتظار کښې چې کوم ناوده نغښتې دي هغه دا دي ...

اوښکې، يا د اوښکو په تسلسل کښې انتظار، د مايوسۍ نخښه نه ده، بلکه ...

د دغې ژوند نه راجمع کړے شوې هغه سرمايه ده چې مونږ ته پکښې ...

مشرقي مينې ابديت په نظر راځي ـ مونږ د دغې مينې ژوند ته د وفا ...

نوم هم ورکولے شو، چې د يو دغسې يقين نه پس هم اوښکې اوښکې انتظار

کيف او سرور ډېوه بله هم ساتي او شعر يوازې د تخليق کار د خپل زړه ...

ذهن يا داخل ترجمان نه وي بلکه زمونږ د ټولو جذبې يدې معنا ...

شريکې وي څکه نو زمونږ د ټولو په ژوند کښې او بيا په شعر و فن کښې

لفظ "ياد" يو خيل ضرورت او اهميت شته ـ د "ياد" دغه دنيا څومره زمو...

په ژوند او مينې په دود دستور خورد ده او مونږ څنګه په دغه دنيا ... به

منډه منډه ګرځو ؟ دا فن هم دے او د فن کمال هم چې کومه فن پاره مو...

تخلیق کوو هغه مونږ پوهولے هم شي، هغه مونږ ژړولے هم شي هغه مونږ سوځولے هم شي ـ دا د فن سره زمونږ فطري مینه ده او دا زمونږ د عمرد مینې سره د فن اخلاص . !

دا روایتي خبرې دي چې اووایم چې سهیل جعفر نظم هم لیکي او غزل هم، که دانه لیکي نو څه به لیکي ؟ البته دا به اووایم چې سهیل جعفر نظم لیکلے او که غزل ، ښه ئې لیکلے دے د ښه نه زما مطلب دا دے چې میږے خاکې ئې نه دي راښکلې هر څه ئې لکه د ائینو رانه پیش کړي دي، خد ورسره اختلاف هم په اسانه کېدے شي او د خوبئ اظهار هم.

مونږ هغه خلک یو چې مرو د ژوند په هره لحظه

زمونږ د پاره به نو څه وي د اجل ښته

شاعر ونیلے شو چې " زۀ هغه سړے یم چې د ژوند په هره لحظه مرم زما د پاره به داجل حیثیت څه وي " خو هغه هم د هغه یو "بولکي عام" په لګولے شي " زۀ " په مونږ بدلوي او د مونږ نه مطلب د هغه د ټولني هغه حساس خلک دي چې ورې ورې خبرې او اشارې هم معنا کولے شي ـ دا جذبه مونږ ته دا هم ښائي چې یو فنکار چې د تخلیق په وخت کله د خپلې فن پارې سرسته کوي ـ نو ځان ځنګه د خپلې ټولنې د نورو خلکو سره تړي ـ او په دغسې فن پاره ، ځنګه د خپل اظهار په وخت ، نور خلک په خپل ځان کښې راشریکوي ـ په دغسې آئینو کښې د بازارونو سوداګران خپل مخونه نه شي لیدلے ـ دا د زړونو د دولت سوداګاني وي او هم د زړونو خاوندان وي چې لحظه لحظه کښې مره کېدے شي ـ په یو بل شعر کښې وائي

ایره وجود مې اور ، لوګي ، یا و هوا ته سپارل

خدا ې خو و تا ته وسپارلم ، ته مې چاته سپاره

سهیل جعفر په خپل ځپې شعرونو کښې دومره فني ژوند وراچولے دے مونږ د ځانو سره بوسي او یو داسې سوال نه مو او سپارې چې مونږ ئې

Pukhto.Net

جواب نه هم شو پیدا کولی خو دغه شعر زمونږ تنده ماته کړي او عو
سیراب کړي او شاید د شعر اولنی وظیفه هم دا ده چې هغه مونږ ناخا
را اوهم لړزوي او یو پړکیفه اطمینان ته مو هم اوسپاري.
هغه وجود چې د چا غم ایره کړې د ے هغه واپس اور ته ، لوګی ته یا هوا ،
د سپارلو په وخت یو دغسې سوال راپورته کول چې زه خو خدای تا ،
سپارلے ومه ، نو دا ته مې چا ته سپارې ؟ عین په دغسې وخت کښې او د
منظر کښې یو تخلیقي قوت او توان هم غواړي ـ د فنی مهارت ضرورت
لري او د دغسې غمژن منظر پیدا کولو فنکارانه صلاحیت هم ـ په یو
شعر کښې وا ے

زه پخپل کور یم که د باندې که تر خاورو لاند
په دغه ښار کښې د خپل ورک وجود مزار غواړ

د مرګه پس د مزار خواهش په ظاهري معنو کښې که هر څو یو خواهش
ښکاري ـ خو په باطن کښې د مزارو د مېلې ، یا ورته د خلکو تګ راتګ د ژوند
د علامت نخښې وي ـ ګویا په څه بانه هم د ژوند مېلې برقرار ساتل ، مونږ
دا خیال هم رابخښي چې یو فنکار چې د مرګه پس هم څه غواړي نو د ژوند
مېلې او د ژوند سره مینه غواړي ، او د دې شعر معنوي وجود مونږ ته د
خیال هم راکوي چې زمونږ اجتماعي وجود د څومره زمانو نه ورک د ے ـ
کله په دغه وجود د سرې شک هم پیدا شي چې دغه وجود چرته موجو
هم د ے او که نه . ولې د دغې شک او ګمان دغه مرحله سنده کول یا نسو
کول او ورته یو تل پاتې وجود ورکول چې هغه دې د یو سوالیه نشان غوند
تل تر تله هر چاته ته مخامخ وي او د تل د پاره دې تری د خپل ورک وجو
د پیدا کېدو د پاره معني اخلې دغسې تصویر جوړول د یو کمزوري فنکار ک
نه د ے

مونږ چې کله خپلو پښتو شاعرانو ته نظر واچوو نو په دې حواله راته څ

خان ، خپله تولنه ډېره خوش بخته او غني ښکاره شي چې مونږ دلته ...
د سهیل جعفر غوندې خوږمره ډېر فنکاران لرو . چې دغسې مرحلې هم ...
کولے شي چې مونږ ته دخپل وجود د بیا پیدا کولو احساس را کوي ...
سهیل جعفرته داسې داد ورکول غواړم لکه هغه چې په خپل یو ورو ...
" یاد " نظم کښې د شبنم هسې تولـه شپه وربدېـ ...

غوټۍ د ...
په نیمه شپه چې ...
گل شي یاره
زما لـه سترگـو شبنم اوري
تـر سحـاره پورې

ښه بـه و ـے چې پـه دې سربېره نما مضمون کښې ما پـه آزاد نظم هم ...
خبره کولے شوے . بس دومره عرض بـه اوکړم چې آزاد نظم د یو ضرورت ...
مخـه مونږ تـه چې کوم رعایت را کړبد ـے . مونږ باید چې د هغې د " لے " ...
جوړښت خیال اوساتو ، نـه چې هسې پـه یوه اوږده خبره کښې دخپلې خوښې ...
پـه ځای کړبنې اوباسو او ټکې سره هسې ببل ببل کړو . د مثال پـه ...
سهیل جعفر دغـه وروکې نظم چې ما را نقل کړو او هغـه تـه مې د هغې د ...
پـه رڼا کښې د داد ورکولو کوشش اوکړو . دغـه نظم د معنې د لحاظـه ...
دروند او غني نظم د ـے خو د جوړښت د لحاظـه کـه مونږ د دغې نظم د لیکـ...
سټائیل داسې ...

غوټې د یاد پـه نیمـه شپـه چې کلـه گل شي یاره
زما لـه سترگـو شبنـم اوری تـر سحـاره پورې

نو دا یو آسان شعر د ـے او کـه صرف د یو شعر پـه نوم هم او لیکلے شي ،
خپلـه معنا نـه بدلوي مونږ چې کلـه آزاد نظم لیکو نو باید چې پـه دې ...
اوکړو چې کـه یو لفظ ، بل لفظ پـه هم هغه " لے " کښې پـه یوه مصرعـه ...

خاښد ے شي ، نو مونږ ته دا رعایت ښته چې یوه مصرعه دې د بلې نه سېه شي ، نو باید چې هغه پکښې ځای کړو چې لوستونکې هم نه محسوسوي ... شاعر خو مانه هسې یوه جوړه مصرعه دوه ټوټې کړې ده ـ د مثال په ځو د اردو نظم ...

وه ایك ...
جو راستے میں پڑا هوا ...
جسے محبت تراش ...
تو صنم ...
جسے عقیدت سنوار ...
تو خدا ...

دا هم دغه هومره وړوکې نظم د ے خو مونږ که دا ټولې په یوه اوږده مصرعه کښې ښو نو د آخرې لفظ " لے " مونږ ته دا ښائي چې دا یو ځای کول به مناسب نه وي نو باید چې ددې خیال او ساتلې ...

د سهیل جعفر په دې مجموعه کښې ډېر ښکلې او په ټول پوره نظمونه موجود دي او ټول په ټوله د لوستو دي د مثال په طور تاسو دده " خ... نظم اوګورئ نو هره وړه او لویه مصرعه به درته پوره ښکاره شي ... دغې نې ټول نظمونه دي بیا په نظمونو کښې یوه داسې خبره هم ... کومه چې د یوې فن پارې د پاره د روح او ژوند مثال لري ،

په دې کتاب کښې به چرته چرته داسې شعرونه هم راغلې وي چې ... به ذهن به لږ درانه لګېدلې وي خو دا د شعر د کمې یا فنې کمزورۍ وجه نه ده . دا د لب و لهجې د نا اشنائې خبره ده زمونږ او دوی ... منځ دا مسئلې موجودې ضرور دي ـ ځکه چې یو لفظ چې پخپله په شعر ... یو کردار هم ادا کوي ـ هغه د خپلې معنی سره سره خپل یو منف... پس منظر ، خپل خوې بوې ، خپل کره وړه او خپل رنګ هم لري

نو مونږ چې کله دغه لفظ د خپلو ټولو معنو سره محسوس نه کړو ..
لږ غونډې درانه مو په احساسانو اچوي - خو اوس لکه چې دغه ...
زمونږ نه کمیږي - اوس دلیل او شعر و ادب په ذریعه مونږ یو بل ...
دومره رانږدې کیږو چې صبا به انشاءالله په یو بل کښې هیڅ نا اشنائي ...
محسوس کوو زما ددې آخري خبرو سره د لیکوال یا نورو ملګرو اتفا...
ضروري نه ..

د داد نه پس که سهیل جعفر ته دعا کول ضروري ګڼم - نودا به یوازې
ده ته نه بلکه د کوټې ، زیارت ، ژوب او نورو پښتنو علاقو ټولو زړو ..
نوو لیکونکو ته کوم چې د دغې خایونو ټول لیکوال د قدر ور دي او ...
نن وخت کښې چې د دغې خای د لیکوالو کومه د قدر ور برخه ده ..
څومره ذمه دارانه او تاریخي رول لوبوي او زمونږ د ټولو دپاره چې څوم...
د چاپ کیدنې سبب کیږي، زړه مې د ډیر اخلاص سره غواړي چې د رحمان
بابا په قول اووایم ..

چې کشور د افغانانو معطر ...
د هر بیت مصرعه مې زلفې د خوبان ...

د رحمان بابا دغه شعر چې مونږ ټولو یوه دعا ګڼلې ده او تل به ...
د دعا په طور د خپل فن د روزنې په وخت د خان د پاره رابلو - او خ...
روح ته به تري خوشبو غواړو - په دغه شعر کښې اصلي خبره رحمان با...
دا کړې ده چې ما د خپل هر بیت نه د خوبانو زلفې جوړې کړې یې
دومره او دغسې فني رنګ مې ورکړو ، د دې د پاره چې د افغانانو وطن
معطر کړي نو باید چې زمونږ نوې لیکونکې خپله شاعري دغسې جو...
کړي - ځکه چې زمونږ وطن او اجتماعي وجود ته لا د دغسې فن ډیر
ضرورت ..

او دویمه دعا به زه د ملګرې سهیل جعفر د دې شعر نه واخلم ..

سبزه د ژمکې ده ښکلا دعا کوم بېړۍ

د بار رخسار دې وي همېش په شنو خالونو آباد

غوارم چې هم دغسې خيال د هر پښتون شاعر د فکر و نظر نه اوريږي چې زمونږ د فکر و فن لارې آبادې وي او زمونږ اجتماعي ژوند هم د شعر د سپرلو په ګلونو سمسور وي.

په درناوي

رحمت شاه سائل

ورتېر ــ مالاکنډ ايجنسي

۱۹ ـ ۵ ـ ۲۰۰۳

Pukhto.Net
پښتو

# يو سرسري نظر

"د ياد په جزيره کښې" د ښاغلي سهيل جعفر د شعرونو نوی مجموعه ده
په دې کښې اکثر غزلونه ، څه شمېر نظمونه او يو څو نظمئي دی ـ
ښاغلي سهيل شاعرانه طبع غزل ته ډېره موزونه ده ـ ددې مجموعې
اشعارو ځينې د هنه د شاعرانه قدرت اندازه کيږي ـ که هر څو خوا
زلمے دے ـ خو فکرو فن ئې ډېر سنجيده دے ـ د خيال و فکر دا يو نو
انداز د پښتو د شاعری د تخيل او فکر نوې نوې دروازې پرانځی ـ نه ډېر
وخته راسې په پښتو کښې شاعري کيږي ـ او ډېره زياته کيږي ـ پښتو غز
د کلاسيکي دور نه پس د جديديت يو نوے رنګ په شلمه صدی کښې
واخستو ـ په جديد غزل کښې هم د فکر و فن ډېرې نوې او ښېګڼې تجربې
وشوې ـ ولې بيا هم د ستر حمزه شينواری د غزل نه وروستو د جديد

څه ډېر نوے رنګ راښکاره شو ـ د نظرياتي مکتب ترقي پسندو شاعرانو پښتو د غزل لمنه کښې د روزګار د کشاکش د ترخو نه راوتي د احساس او احساسِ محرومۍ خواږه ګډ کړل ـ خو دغه انداز هم د جديديت په دې کښې ډېر په تندۍ خپل مزل تر سره کړو ـ او د پسته شاعرانو په باب نقادانو دا رائې ولرله چې د پښتو په شعر او شاعرۍ کښې د جديديت د دې غني دور نه پس څه نوے خيال يا تصور مخې ته رانغے او شاعرۍ د صن نه علاوه د خيال و فکر په باب له هم يو مسلسل تکرار وګرځېدو ـ په دې دور کښې سيوا له يو څو استادانو شاعرانو بل داسې شاعر په ګرانه په ته راځي چې د شعر مضمون ئې د تکرار صورت نه لري ـ خينې نقادانو په نو شاعرانو کښې د جديديت نه مابعد جديديت Post Modernism د لورې د تلو نخښې او هڅې هم وخيرلې ـ ولې دا يو منظم او مربوط تحريک نه ښکارې

حالات او زمانه يا چاپېريال يخپله د شاعر په فکر اغېزه کوي ـ د نظرياتي جنګ په ختمېدو که هر څو پښتو شاعرانو ته هغه مسئله پېښه نه سوه کومه چې د دنيا د نورو قامونو نظرياتي شاعرانو ته ورپېښه شوه ـ او اګ اولسونو او د هغوئ فنکاران په دې نوي حالاتو کښې د نظرياتي بحران سره مخ شول ـ ولې د پښتو د شعر او ادب خپل ادبي روايتونه دومره پاخه دي چې د مقصديت د مکتب شاعران ئې فکري غربت ته پرې نښول ـ د يو اهم او زور ولې مستحکم نظرياتي مقصد ته ئې راوګرځول ـ او دغه مقصد د پښتو شرع هم وائي ـ په دغه شرع کښې د پښتو هر شاعر درست دے چې د خپل ادبي روايت په نوګه د قام د ذکر روايت په ځاي نري

ددې سره سره له وخته راسې په پښتو کښې د آفاقي قدرونو د روماني او جمالياتي شاعرۍ تحريک هم هر کله ګرند ے روان د ے ـ د دغه تحريک هم خپل فني فکري ادبي روايتونه دي ـ د جمال پرستو د جمالياتي ادب

قدرونو شاعرانو هر کله په هر خنګه حالاتو کښې د خپل زړه شاعري کړې ده ـ معروضي حالات د تغیر او د ارتقاء له مخه خپل رنګ بدلوي ـ بدلون د اټل حقیقت هم دے ـ ولې آفاقي قدرونه افاقیت لري ـ د هغې رنګ خوشبو هر کله په هره زمانه کښې په خاې وي ـ که هر څو حالات بدل شي ، اقدار بدل شي ، د ژوند رنګ بدل شي خو د ګلونو رنګ ، د بلبلو نغمې د سپرلي خوشبویانې هم هغه زړه رانکون لري ـ کوم چې په فطرت لبې ازل راسې دي ـ ځکه نو اکثر نقادان "د فن د فن په خاطر" یا "ادب د ادب د پاره" قائل پاتې شوې دي ـ او دغه رنګ ادب یا شعر بواځې د ذات د انتهائي داخلیت کښې لکه د ملغلرو پروت وي ـ که څه هم د ذات اظهار په یو لحاظ د هر انسان د ذات اظهار دے ـ او د هر چرته د هر سیمې د بنیادم د ذات عکاسي کوي ځکه چې د وېنې رنګ هر چرته یو شان دے ـ خو انسان له بل انسان نه په ډېرو لحاظونو او د ذات په حواله منفرد او جدا هم دے ـ ځکه نو د ذات اظهار د فن په دنیا کښې هر کله ښکلے او افاقي حېثیت لري ـ

دا رائې به که څه هم د ځینې خلقو په نظر کښې یو مخیزه وي ـ خو ښه دغسې ښکاري ـ چې که د پښتو په شعروادب کښې ځا د Post Modernism یا مابعد جدیدیت په لور ورومبے ګام اخستے دے ـ نو هغه د ذات د داخلي د اظهار شاعران ښکاري ـ او په دغه رنګ شاعرانو کښې یو نوم مانه ښاغلي سهیل جعفر هم په نظر راځي ـ ددې یو سبب شاید دا هم وي ـ چې سهیل جعفر یو لوستے تعلیم یافته خوان دے ـ د پښتو د ادب نه علاوه یې عالمي ادب ښه مطالعه کړې ښکاري یا په فطري ډول د خپل انداز شاعر دے ـ ځکه نو په ځاې د جدیدیت د یو خاص دور د ادبي روایت پاللو د خپل رومان دنیا ته راجع شوے دے

"د یاد په جزیره کښې" د غزلونو اکثر رنګ د خپل داخلیت ځینې اخ

شو ے ښکاري ۔ دا تمثیلي انداز هم کېد ے شي او د یو مخلص شاعر په شان
ني اکثرخپلو فکري تجربو ته د اظهار صورت ورکړ ے د ے ۔ د خپلو جذبو
د ذاتي جذبو ترجمانه شاعري ئې کړې ده ۔ داسې هم نۀ ده ۔ چې
سهیل جعفر ببخي د خپل ماحول څخې بیل د ے ۔ په خپل چاپېریال
چې په خارج کښې کوم حالات واقع کېږي ۔ د هغې نه هم یو ژور اثر
اخلي او اظهار ئې کله علامتي او کله نیغ په نیغه په نظمونو کښې زیات
خال خال په غزلونو کښې هم ښکاري.

خو د یو هدف ، د یو مرام یعنې د محبت د لارې لارو ے سهیل جعفر دخپل
زړۀ احساسات څرګندوي دخپلو جذبو او خپلو احساساتو سره مینه لري
پخپله مینه منین د ے ۔ او د هغه د شعر پیکر د هغه د خپل تخیل د رنګونو
نه تراشلے شو ے د ے ۔ هغه د خپل تصور په ائینه کښې هم محبت او
دنیا لیدل غواړي ۔ د شعر په رنګ ئې دغه احساسات خواره ښکاري ۔
هم دادي چې د مینې سندرې هم د خپل ذات د داخلي کرب نه زېږېږي
لکه څنګه چې شیلې وئیلي وو ۔

Our sweetest songs are those
that tell of saddest thought.

نو د سهیل جعفر په اشعارو کښې هم د نغمې خوند یا خواږه د هغه د خپل
د غم په سبورې پېدا شوي ښکاري.

څنګه مې تېر کړلو بې خونده ژوند خبر پرې نۀ
ولې خفه وم ، مسئله څۀ وه ، غمونه څه و

کوم ژوندچې هغه ته بې خونده ښکاري ۔ د هغې اظهار څومره اد
خوند پېدا کړو ۔ او د شعر دکمالاتو څخې یو کمال دا هم د ے چې د
خوندي د اظهار نه خوند پېدا شي.

زما د کرب و تماشې نه ، جهانونه دې لېږ را
ستا یادونه مې ایره کړو ، اوس یادونه دې لېږ را

يا لته چې

راتـه ناست لې مخا مخ ، اوښکې مې نـه درېږي
درتـه کښـې نشم پـه خپـر ، سترګې بـه پټې ګـړم

د پښتو پـه ادبي روايت کښې د احساس د شراکت دا انداز ستـر حمـزه ښ
څومره نـژدې د ے او څکـه نـژدې د ے چې د بوې خاورې د يوې پټ
شاعران دي حمـزه صيب واي

رامې شي لـمـو تـه د ديدن پـه ځـه
اوښکې څـه نـاپـوهـه رقيبـانې دي

او يو لاشعوري ځـرک ئې د کلاسيکي او جديد ادب د مطالعې هم بـه هغه
اشعـارو کښې ښکارې ــ چرتـه چې زور خيـال پـه نـوې رنګ کښـې وړانـده
شوے د ــ

د بـاغلي سهيـل جعـفـر ددې مجموعې پـه اشعارو کښې ډيـر ښکلي خواږه
منفـرد خيالات داسې شتـه چې اوږد بحث پرې کيد ے شي - وئې يـو خو
ډيـرو شعـرونو نمونې وړاندې کـول يـو تکـراري عمل ښکاري - او بل د تبصره
دغـه انداز دومره عـام کړ ے شو ے د ے - چې لوستونکي تـرې زړه ستړې
ښکاري - نو زهٔ د ښـاغلي سهيـل جعـفـر ددې مجمـوعې "د ياد پـه جـزيـر
کښې" څينې نور شعـرونـه نـه راخلـم - چې پـه وړاندې يـو څـو کـرښو تـبې
مبهـم انداز کښې ذکـر شوې د خپل خيـال پـه ثبوت کښې ئې پيش ش
لوستونکي بـه پـه پخپلـه اندازه وکړ ے شي چې ښاغلي سهيـل جعـفـر د نو
خيـال او د کوم انداز شاعر د ے - او پـه کوم جـرأت چې د خپل داخلـ
اظهـار هڅـه کوي - هغـه د پښتو د شعـر مابعـد جديديت د دور څومره
نمائندګي کوي - يواځې دا دوه شعـرونـه وړاندې کوو

پـه هرې خوا ځهرې ، يادونـه ، خوا‌هشونـه ، هـ
هجوم پـه زړهٔ کښې وي همېش ، د بازارونو پـه شان

په ښکلاګانو ډک ژوندونه ! ستا په سر مې نشي
نه خوب د خوب ، نه مې تعبير د تعبيرونو په شي

زه په رسمي توګه نه ، په حقيقي ډول د ښاغلي سهيل جعفر منته کوم چې ماته ئې په دې ښکلې مجموعه د څو کرښو ليکلو د پاره اووئيل او ورسره د خپل ګران ملګرى افضل شوق هم ممنون يم چې هم د هغه په اصرار ما دا څو کرښې په بيړه وليکلې شوې .

پروفيسر ډاکټر راج ولي شاه خټک
(ډائريکټر) پښتو اکېډمي
پېښور يونيورسټي

Pukhto.Net
پښتو

## "د یاد په جزیره کښې"

## د مینې د شاهجهان ـــ تاج محمد

سهیل جعفر د "جمالیات" (AESTHETICS) شاعر دے
دهغه شعري مجموعه " د یاد په جزیره کښې " د " جمالیاتي
تجربو " (AESTHETICAL EXPERIMENTS) بوه په زړه پوره
مرقع ده او د ادب لوړ ذوق لرونکی پوره "جمالیاتي حظ"
(AESTHETIC PLEASURE) ځنې اخستے شي چې د ژوندون د عا
" مسرت " په مقابله کښې زیات نزاکت ، نفاست او ترفع لري،
په دې کېفیت کښې انسان د یو داسې وارفتګۍ او محوتی سره
مخامخ شي چې خان په یوه داسې ښکلې او اعلٰی دنیا کښې
محسوسوي ، چرته چې نور خو نور ، اخلاقي درس هم هیڅ
ضرورت نه لري.

د تنقید عالمان په دې ښه خبر دي چې " جمالیات " په تخنیو

کښې صرف د" اظهار " (EXPRESSION) سره اړه لري ، اطالوي
مفکر او نقّاد " کروچې " (1952 - DENEDETTO CROCE 1866)
اعلانيه وائي چې" اظهار " هيڅ اخلاقي يا سياسي نظريه ،
خارجي معيار نه مني ځکه د " جمالياتي تنقيد "
(AESTHESTICAL CRITICISM) بنيادي کار دا دے چې دا اوګوري
چې تخليق کار د څه اظهار کړے دے او په څومره جامعيت سره
ئې کړے دے ؟ په دې حواله که د سهيل جعفر شاعري اوکتلې
شي ، منّور لوستونکي به ئې د قدروقيمت تعين په اسانه او سره
شي خو اصل مسئله دا ده چې ئن صبا زمونږ قارئين او ناقدين
دواړه په تخليقاتو کښې صرف قامولي او سياست لټوي ، ادبيت
شعريّت او فنّي معيار ته هيڅ اهميت نه ورکوي ـ زوم پـ . د
تخليق او تخليق کار سره زۀ انصاف نه بولم ـ د فن او معيار د
بنيادي غوښتنو څخه هم ناخبره ليکونکي او لوستونکي ،
تخليقي ادب چاچ که صرف د خپلو سياسي نظرياتو په زرکانے
اخلي نو نتيجه ئې د ښه او لوړ ادب د زوال په برته نو، څه
کېدے شي ؟ يو شاعر که د خوشحال خټک په ځاي د حميد بابا
مزاج اُولري نو آيا تنقيد هغه نظرانداز کولے شي ؟ په ...
ادب کښې دا سوال ډېر اهم دے ـ
زۀ منم چې د کميّت (QUANTITY) او کيفيّت (QUALITY) دواړو ...
اړه ، ادبي تخليقات پکار چې متنوّع او ډېر موضوعات اُولري ...
داسې شاعران هم لږ نه دي چې د خپل فطري رجحان مطابق
د سهيل جعفر غوندې اکثر " مينه او ښکلا " ليکي . زۀ وايم د
ضروري ده چې هر څوک بايد چې د خپل رجحان مطابق ليک ...
تخليق اُوکړي ، البت د نقادانو تجزيه ، د هغو د خپ...

تعضباتو او خوبنی نا خوبنی په خاې ، په کار چې د تخلیق کا
فنّي زیار، فکري دائرې او تخلیقي عمل سره تړون او مطابقت
اولري ، ولې چې هر ګل په خپل رنګ ، خپله خوشبوې او خپل
شکل پېژندل کیږي.

سهیل جعفر په پښتو او اردو دوارو ژبو کښې نه لیکل نوی
شاعري علاوه د افسانې په صنف کښې هم یو کامیاب تخلیق ک
دے خو حقیقت دا دے چې هغه لیك ښخي لږ کړیدے ، لا
په دې کښې شك نشته چې هغه تل دا وَس کړیدے چې اوچت
معیاري تخلیق اوکړي ، ځکه که دا اووایم چې څه چې هغ
لیکلي دي ، په ټول ئې پوره لیکلی دي نو مبالغه به نه وي
که څه هم " حسن او عشق " د سهیل جعفر اساسي موضوع
خو ددې مجموعې نظمونو او غزلونو په علامتي بڼه کښې
خاې په خاې زمونږ د ژوند ، چاپیریال او کلتور څنې اه
موضوعات هم په ډېره ښائسته پیرایه کښې بیان کړي دي. ما
په خیال د هغه نظمونه خپل دلکش انداز او په حد
حیثیت ډك مؤثر اظهار لري.

HAVE A NICE DAY ، هغه خلك ، VALENTINE DAY غوند
نظمونه زما ددې خبرې په دلالت کښې تاسو کتلے سي .

د غزل په اسلوب کښې دهغه شعري لفظیات په حصو
توګه پاملرنه غواړي - زهٔ په داډه زړهٔ وئیلے شم چې د سهیل
جعفر دکلام دا اړخ د یوه نوی لساني تشکیل مترادف کوشس
چې په ادبي ، شعري او لغوي پښتو کښې د وسعت ، جامعیت او
اضافي باعث دے - دسمبر ، فریم ، بنګله ، افسر ، بلبه
ګلاس ، کاپیانی ، بسونه ، ګملې ، اُداس ، خلیی ، نمس ، سې

رنګيځ او ځنی تور ، د پښتو د روايتي مزاج خلاف الفاظ ، چې هغه په څومره کمال ، هنر ، خوند او ښکلا پخپل غزل کې استعمال کړی دي ، زما د دانست مطابق دا زيار د سهيل جعفر د شعري قدوقامت او تشخص بنيادي حواله ګرځي او د پښتو په جديد غزل کښې د CONTRIBUTION په مصداق درښت ارزښت لري !!

حاوره
سعيد ګوهر راولپنډي
جمعته المبارك
۱۷ اکتوبر ۲۰۰۲

# نعت شریف

چې شرمنده وي په کردار کښې، ژړاولې
هغه به څنګه محمدهﷺ! صفت ستا ولې

اول ئې نوم شبنم په پاڼو، په هر خوا ولې
بیائې په ذکر خوشبوئې ځان په هوا ولې

که شك لري نو و دې ګورې ښه په غور کهکشان
هغهﷺچې تېر شي په اسمان هم نو رڼا ولې

داسې به یو وي واقعي،داسې به نه وي دوې
چې د زخمونو په بدل کښې هم دعا ولې

رښه نن بیا دے ضرورت د هغه ښکلي حبیبﷺ
چې د جهان په بد رنګیو بیا ښکلا ولې

اوس خو په ازغو ، په زبړو پانو شاعري نو

ستا د ګل ځوانۍ خبرې بیا به په سپرلي نه

دومره زۀ تنها یم چې ستا یاد هم راله نه راځي

یاره زۀ په څومره بې وسۍ دا زندګي نو

ستاد یادپه لمرکښې مې دا تور وینته هم سپین کړ

نه پوهېږم یاره ، چې غلط که زۀ صحي نو

یم صفا سړے ، څه می په زړهٔ هغه په ژبه ووم
مینه نفرت دواړه ، زهٔ په ډېره سادګۍ درم

هېر به کړي د هجرعذاب، ستا د وصل سپین سحر
ګل می په نظر کښی دے ، سفر که په ازغی دےم

یو می سه له خیاله خېل د زنی خال ،دشونډو ،ټ
پرې می ږده ، بچیانو له خواري او مزدوري تلو

دا خو مسئله نه ده چی یار به بیرته رانه شي
غم دے د خواني سهېلـه ! غم به د خواني تلو

صحې : صحیح

ګلونو خلکو څهرې راورې ، په ګلونو باندې
مونږ سترګی ورکړې په انعام ،په دیدنونو باندې

په وینو سره لاسونه څو ، خپلو کورونو ب...
مونږ تصویرونه وو جوړ کړي ، په ګلونو باندې

ښه سوداګر د ے،خرڅوي اوښکی د ستورو په نو...
هر څوك خطا کړي ، په خوږو خوږو ګایونو باندې

هر څه مو ورکړلو په جار، تر لاس مو هیڅ هم نه ښ

پورونه پاتې شول زمونږ ، په دې وختونو باندې

ګیله به ولې نه کړو ، خفه به ولې نه یو

سترګې مو ډکې نه کړې ، ستا په دیدنونو باندې

د خواهشاتو په بدل ، لمنې ډکې راوړې

خدای خبر څه کوي دا خلک ، په غمونو باندې

ګابونه ! حیره

له ډېره وخته يو له بله نا خبر ئو ، دواړ
مونږ د خلوص ملګري نه يو ، همسفر ئو دواړ

نه کهکشان ، نه سره او شنه ، نه د سپوږمۍ په شانې
زه او څهره ، د ويجاړ غولی يو منظر ئو ، دواړ

د لمر په شانې ستا تږون له رڼا ګانو سر
ملګري مونږ صرف تر وخت د ماخيګر ئو دواړ

ته له حالاتو مرور او ، ځ له تانه خم ،
خواره قسمته ! له عمرونو در په در ئو دو،

کټه د مینی نه زما او نه د زړه په نسه
په دا هنر کښی بې کماله ، بې هنر ئو ، دو،

د یوې ښکلی غوندی ناوی قیمت ډېر د ے او
سهېله! زه او زما ژوند ، کم تر سره زر ئو ، دو،

Pukhto.Net
پښتو

## HAVE A NICE DAY

لـه تـوره وښ
اندېښنو يمـه پـه سر اخـ
کلـه زه 
کلـه بچيـار
کلـه وکور تـه تور
دا وېـ
ولی پـه وار و
وېـره وي د

چې

پښارو د اسې

د نشئي درېور ګاډ

یا په سړك باندې چلیـ

یا یو بې واکه جسو

ژنده ګو

یا فائرنګ د قبائيلو تر میـ

یا د ټريفك اژدهـ

مورې ! خورنـے بې

وژلے شې

مورې ! ويرېږ

تـه دعا راتـه کـه

زهٔ د ډوډۍ پـه لټـو

لـه کوره وځـ

چې ژوند ے واپس وتا تـه راشـ

ګاډی: ګاډي موټر

شومه خفه ، چې مې د سپین وینته په لور اوکتل
نن مې هینداره کښې و ځان ته ښه په غور اوکتل

حسرت ، امید او تمنا ، غوټۍ ګلونه شو تور
زه وم په یو نظر خوشحال، دې راته نور اوکتل

نن خو بېخي نه یم خفه ، له خپله بخته ، مخته
په زړو سترګو راته ؛ زما د سترګو تور اوکتل

ته څه خبر ئې ستا د دغه روتې نه ورپسې
ماته دا خپل زړګي جانانه ! په پېغور اوکتر

چې را واپس شومه سهېله ! ماځيګر و کوي
ستړی څهرې ته مې يواځې خپلې مور اوکتر

غور اکثر پښتانه "غور" وائي

په سلوك دى ژمي راغلو شاوخوا سوړ دسمبر مې
تر كلو را باندې اوړد دي ، دا د يو ساعت سفر دى

يو انداز به خپلوم ، په انتظار كښې ، نوې غوندې
تېروم به په خوب شپه هم ، بندوم به د لور ور مې

اې زما په شانې خلكو! سيه بختو! دې تيارو تې
څه به وكړي داسپورمۍهم،څه به وكړي دغه لمر مې

هیڅ مو هم نـه دي موندلی،د ظالم وخت نـه تعـبه ،
خوارو زار  بې ننګـه هم یو ، بې لـه یاره در یـه درمه

زه حېران یم دې مقام ته ،دخپل ژوند و دې انجام ،
نـه خنـدا خوشحالي غواړم ، نـه د مینې یـو نظـر مه

تـر وفا دی صدقـه شـم ، بـس دغـه سزا می بـر ، د
دضمیـر مـلامتـي هم ، پـه سـر پاس غم  لکـه عمر مه

د یار مخ آئینـه شانتـې اے سهیلـه ! پکښـې ښـکاره
د ښارونو رنګـینـی هم ، د صحـرا زېړ ماخـېـګر مه

کلو : کلدا ،

ایره وجود مې اور ، لوګي یا وهوا ته سپارې
خدایې خو وتاته وسپارلم ، ته مې چاته سپارې

خنکه به جوړ شمه طبیبه ! زه د زړه له ،نخ...
زما دوا ته ضرورت ، ته مې دُعا ته سپارې

وکړه یقین ، ښاد یم له خپلو بد رنځیو سر...
سترګې مې بربنې په رڼا،ته مې رڼا ته سپارې

زړه په خلوص،احساس په مینه، مجرمان دي دواړ
ولاړ دي ستا په عدالت ، که ئې سزا ته سپاړ

خنکه سړے یې ته سهیله ! دا د ګټې سود
زه درته وایمه چې نن ، ته ئې صبا ته سپاړ

Pukhto.Net
پښتو

# د صبر مېوې خوږې وي

داسې په طمع صم
تونې د صبر مېو
دومره زړې به شې
نه به نې رنګ پاتې وي
نه به ئې خوند پاتې وي

# زهٔ تنهایي

د دائرو غوندې

غمونه خرېږې

زهٔ د مرکز غوندې

تنها یم ګلې

نن هم په تا باندې مئین ، په تا قربان هسې
لکه هینداره شنا بانست ته یم حیران هسې

څه راته ګورې په څیر څیر ، څه لټوې په ما کښې
زه هم هغسې یم ، د زړه مې هم ارمان هسې

د مودو پس هم زه دغه وایمه ستا به حقله
ته مې د زړه سکون ، د زړه د رنځ درمان هسې

هم تې نکریځې ، هم سُرخې د ناوکو په شان هسې
هم تې په سینځه کښې د ستورو کهکشان هسې

د هر یو غم ، د هر ستم ، هر ناروا باوجه
هغه قاتل د ارمانونو مې جانان هسې

لکه پرون ؤ داسې نن هم د سې رحمٰن او رحیم
په گنهگارو دے سهیله ! مهربان هسې

پېښور : د سرد وېښتو ..

Pukhto.Net
پښتو

# راتـه اووايـ

هغـه يار
چې اوسی زړه تـه
او د زړه مې هم پـه تل تـه
زما پـه وينـه کنبې شامـل د
د خُليـو غوندې روان د

وي مې تل د سترګو ورانده
کـه موجود وي
او کـه نـه وي

هغـه یار مې

کلـه کې

راشي .. شا ...

او پـه سترګو زما کښېږدي خپل لاسونه

پټ پـه غوږ کښې زما وائي

" راتـه اووایه

زۀ څوك یم؟ "

Pukhto.Net
پښتو

د یاد موسم ؤ، په کاغذ دغه تحریر جوړېده
یا ئې نامه لیکل کېده یا ئې تصویر جوړېده

Pukhto.Net

ځکه مې نه وکړې د مینې پخوانۍ تذکره
دکور په غولي پوهېدم چې یاره ! ویر جوړېده

ژوندون غمونه سرمایه کړل د قارون په شان
زړګے پاګل مې د بهلول غوندې فقیر جوړېده

وختـنه پـه مـا دی نـه لوریـږی د ښـادی خوبـه

ځکه دی"نـه" کـړو چی پـه"هو"خو مي‌تقدير جوړيـه

د خــوشـحـالی پـه وطـن نـه وو امکانـات د پـه

زړهٔ د غـمونـو پـه ولات ځـکـه سـمـیـر جـوړیـه

سهیلـه ! مـاکـه آباد نـه کـړل د نـفـرت مـحـنـه

ولی پـه دي زمـا دښمـن زمـا ضـمـیـر جـوړیـه

# وختـه

زما وجود نړۍ د ځان ب
سلطنت ورباندې جوړ ب
باچهي ورباندې وب
په ظلمونه پرې روا ب

د فرعون غوندې اسې مختـه
لا ژوند ې
دومره واي
و اوچتو حوصله

"ځان بلا کړئ و فرعون
ځان موسیٰ کړئ و فرعون

Pukhto.Net پښتو

Pukhto.Net
پښتو

خفه به دې یم چې تنها یم پټېږې
ژوند یو عذاب د ے ، مبتلا یم پټېږې

وکړه یقین به دې بې رنګه ژوندون
نه خوشبوئي ئې ، زه هوا یم پټېږې

جوړ په کتلو نې شي ویر ، سترګی به پټې دې

بیا به دی نه ګورم تصویر ، سترګی به پټې دم

ستا تول خطونه به په مېز اوغوړومه او ب

شونډی بې کښېږدم په تحریر، سترګی به پټې دم

چې راته ناست ئې مخامخ ،اوښکی مې نه دریږ

درته کتې نه شم په خبر ، سترګی به پټې لږ

خبر د ے که نشته ستا د دید ، په روښو سترګو امکان
ستا تصور می د ے جاګیر ، سترګی به پټی ل ه ·

غوا ړم چی بیا کړمه محسوس ، مینه د یار د شوبن
که پکښی خوند ؤ یا تاثیر ، سترګی به پټی د م

سهیله ! لږ دمه پکار چی بېخي ستړ ے یمه
را وراندې شپه ده د شوګیر ، سترګی به پټی ل ه

یې ند " به نې : معظ

اوس خو نو خدای خبر، چې ستا په تمنا تازه شي
د نوی مینې په موسم، شاید چې بیا تازه شي

قطره قطره ئې کړم، پرې کښېږدم ستا د نوم ګلونه
بیا دا امکان شته چې د خپل زړهٔ په ښکلا تازه شي

همېشه ستا د خورو زلفو خوشبو ماته راوړې
څکه خو یاره! ستا د لورې په هوا تازه شي

نن مې کوتلې د ے دا زړهٔ ، ستا د هجران غمو،
کبد ے شي ستا په نـزدېکت ، بیـرتـه صبا تازه نن

سهېـله ! وخت چې کله میراوی کـړي د زړهٔ کله‌ب
لاسونـه پورتـه کـړم دُعـا تـه ، یـه دُعـا تازه نن

## مینه هغه

مینه څه ده؟

حالات څه دي؟

لویه خدایه!

د غمو پروردګاره!

تجزیه زما دغه ده

تجربه زما دغه ده

حالات هغه، چې غمونه ډېروي شي

مینه هغه، چې دوه زړونه بېلوي شي

Pukhto.Net
پښتو

ما اوسوي په سمندر د اوښکو
خپله د یاد په جزیره کښې اوسې

رڼا ئې هم کړله د خُان محتاجه
لکه ښیښه په دریچه کښې اوسې

حال مو خراب د پخوانۍ ویران کنډر غوندې
اُداس زړګی مو د ماښام اُداس منظر غوندې

نه آ ګلاب ګلاب لهجه، نه خوشبوئي خبرې
خکه مو دې خل ملاقات هم مختصر غوندې

په هر حالت کښې زندګي وه انتها بسد
چې وه د سیند غوندې یا شور ئې سمندر غوندې

نه خو زما په شانې مات ؤ ، نه زهیر او مـیوس
هغه سرے بېخي له هجره بې خبر غوندې ؤ

هغسې وېښې ، تشـدّد ، د ارمانونو قتل
د زړۀ دننه هم ماحول شاید بهر غوندې ؤ

سهیله! خکه مې خوښ نه شو هغه ښکلے سرے
نور خو ډېر ښه ؤ ، لږ مغرور ، لږ معتبر غوندې ؤ

کـښـېـږ : کنډواله ، وېرانه ، خـه...
آ : هـ...
نهېر : د یاد...

نه لرې کېدو ، چيا په ازغې باندې ليکلې

آ ظالم سړے مې په زړګي باندې ليکلې

څنګه مو تحرير کړو ، څنګه څنګه ؟ په اخبار تحرير

ما خو هغه نوم په خوشبوئي باندې ليکلې

هسې مې ګيله وکړه ، د نن په رويې باند

ستا خو هر سلوك په بې رخۍ باندې ليکلې

ځنګه به راتلو و یخ وهلی توری خونې ته
هغه ګل وجود خو په سپرلي باندی لیکنې

نه وئیل کېدو ، داسې تحریر ؤ د سهېل سبب
ځنګه ؤ کاغذ ، ځنګه سیاهي باندی لیکنې

خوند : کوټه ، بمب

# جانان

د بنو شپول می چاپیر ...
په ککو کښی می جانان خپ...
له رف...
له غمن...
له جها...
له هر جا...
پټ سات...
مطمئن وم، پرسکون و...
چی جانان ...
زما له دغو پټو ستر...
څنګه ور...

او که ورځ

څي به چرته

خو جانان

له پټو سترګو

د ککو پاکي کعبي ته

لکه اوښکه

اووتي

پرېوتي

خاوري شوه

Pukhto.Net
پښتو

په کمرې کښې چې رڼا وه
ستا د سینې خولې خندا وه

یاد ئې نه کړمه ، یو خل مې
بې له شکه ، بې وفا وه

په اظهار زما د مینې
ستا څهره سره له حیا وه

خلک وائي، هغه پیغله
ستا په غم کښې مبتلا ده

عجیبه ماضي زمونږ
د یادونو کربلا ده

څه نیمګړے مو ژوندون
څه نیمګړې تمنا ده

زندګي څه وه سهله
د غمونو انتها ده

تک لا حاصل نه دے ، پراؤ ګلونو باندې نو

سفر به ستا په لور ، د یاد په پلونو باندې نو

څه لیره ډېره خوشحالي هم ضروري ګڼه

ډېره تکیه په ژوند کښې زه غمونو باندې ...م

اوس به وي څنګه خدوخال د هغه ښکلي جانا

زه خو ګزران په پخوانو یادونو باندې نو

# STAGE DRAMA

زهٔ یم

د ژوند د دغې سټېج ډرامې

یو داسې کردار

چې مسخره شم

او وژاړم

نو خاندې په ما باندې دنیا

چې لېونی شم

او وخاندم

نو ژاړي په ما باندې دنیا

یاره ! نـه پلـونـه ستـا د پښـو او نـه غبار پاتـه

زمـا پـه بـرخـه اوښکی اوښکی انتظـار پاتـه

ستـا د وفـا تـر ورك منزلـه ، خدایږ خبـر چې ریې

زړه بو ستـومـانه مـافـر دے چې پـه لار پاتـه

مینی زه هسـی تاواني کـړم ، د خلوص پـه نـرو

نه شومه ستا ،نه مې پـه ځان باندی اختیار پاته

راخي به دلته تللی بيا ، د خپل وجود په لټو
د زړهٔ په ښار کښې مې اميد لکه مزار پاته ...

اوس نه غمونه د جانان ، نه حسرتونه د ز...
زياتي د عمر دا ماښام په اختصار پاته ...

سهيله ! څه کوم دا هسې لاحاصله مينه
داسې رشته مې پکار نه ده ، داسې يار پاته ...

پاته : پا...

Pukhto.Net
پښتو

د دار په سر هم که کېدے شي د رښتیا حفاظت
باداره! وس راکړې چې وکړو د رښتیا حفاظت

مینه کوم خو پېتوم ئې د دنیا له سترګو
د خوشبوئي کومه یاره ! په هوا حفاظت

د بې وفا جانان په لاره تګ به ولې نو
مونږ خو کولے شو د مینې ، د وفا حفاظت

Pukhto.Net
پښتو

ستا په یادونو ورخ شوه تیره ، خم ، غمجن اوده

نور به دی یاد کرمه صبا ، ستړی یم ، نن اوده

په تا خبر نه یم ، چې شپه څنګه تېرېږي ، به [illegible]

زۀ خو په اوښکو چې لمده کړم ښه لمن ، اوده

خوب مسئله نه ده سهله ! انتظار نرم سنر [illegible]

په ځان را اچوم د غم درنه بړستن ، اوده

Pukhto.Net

يو لمر د ښېلتانه او بل غمونه ،کور په تو
د بخت هيندارې ټنې شوې ژوندونه!کور په تو

د مينې پېغمبر يم ، يوه ورځ به نړو
جوړ شوي د نفرت دا دېوالونه ،کور په تو

هينداره ښښته ده ، دروغ نه وائي اشنا
ښېل ښېل د ښوسي وينې عکسونه ،کور په تو

Pukhto Net
پښتو

د ژوند د تازګی په ارمانونو ډکی اوښې
د سترګو په کاسو کښې بې سکونه ،کور په نو

په سرو وینو لړلی دي پراته سهېله ! [illegible]
د زړونو شهید شوي ارمانونه ،کور په نو

Pukhto.Net

دا ستا په یاد کښې شوه جانانه! زندګي شوه

لکه ققنس وایمه تل زخمي شوه

سترګې يې پټې وې، په ژغ کښې يې مستي ښکاره وه

په يا قربان پسې شروع کړه نڅونې شوه

دلته څوک نه ګوري په ښه سترګه د خوار په لور

دلته رواج ده د ماړه شته من سړي شوه

دا انتهاد بې وسی ده ، حیرت ولی یوږ
خزان ژیلی خلک وائي د سپرلی سند

په یو سرور کښی مبتلا یم په دې وخت سهل
وه می لیکله په غزل کښی ، ژوماني سند

د ماره : د سرمایه د

زهٔ یم له ځانه خفه ورک ، نه خرابۍ نهو

نه لېونے یم ستا د مینې ، نه کوڅې نهو

داسې ښکارېږې لکه جوړ چې اوس تصویرئې زه

څېره دې ګورم ، یکښې تېرې حادثې نهو

دا ستا په کسو کښې لیدل غواړمه خپله څهر

زهٔ دې د سترګو په کسکو کښې آئینې نهو

مه وے لاسونه زما ربه ! چې د بخت به نه
په کړو کړنو کښې د مینې افسانې نه و

دومره غمونه ، اندېښنې ، د اضطراب انته
اوس خو ژړا ته خوره یاره ! بهانې نه و

سهېله ! تل چې به روانې وې له اوښو س
د زړه په دښت کښې د یادونو قافلې نه و

Pukhto.Net
پښتو

# هغه خلک

زما د ښار د موسمونو په شان
څوک چې بدلیږي
دومره زر بدلیږي

د چا د مینې محبت روڼې
د سترګو رڼا تېږي
په نفرت بدلیږي

زوکه! هغه خلک

خیلو خطونو او کارډونو ته

دا ولې لیکې؟

"زه به تر مرګه پورې

تا سره مینه کوم"

[illegible]

Pukhto.Net
پښتو

تر ګل نازکه او تر سوات ښایسته حسینه څه
خدایه ! د زړه تیارو ته را ، یو مه جبینه څه

Pukhto.Net

ځېل خال وخط راته ښکاره شي خال وخط د جانان
تل ښکلومه په هینداره کښې ، په مینه څه

لاس او ګرېوان به وي تر څو ، اے د ښادۍ ملګر
زما تودې اوښکې او دا زما واورینه څه

ستا د جمال دا تازګي ، د سرې او شنې په مثار
خدای دې مدام لکه ګلاب لره حسینه ځهـ

په رنګانو کښې د ښار تورو تیارو اوځور
دلته مې بخت نه هغه خال نه تکه سپینه ځهـ

هغه جانان ، هغه سلوك ، هغه بې وسه خوا
هغه سهېل ، هغه نصیب ، هغه غمګینه ځهـ

# ګلونه

بیا مې راواخستله ښه
آ پخوانۍ لیکونه
بیا مې نږو جې
په کاغذ باندې ستا د نوم ګلونه
ګلونه
ستا د ښکلي یاد ګلونه
ځکه خو اوښکې تېږې
لکه شبنم وریږي

نه زهٔ فرهاد شوم او نه نه ګلې ! شیرینی غوندې
ده زمونږ قصه هم د غریب سړي د مینې غوندې

مینه کښې دومره تیښېده هم راته نه وو پکار
شوم بې بها د لاوارث مقتول د وینې غوندې

Pukhto.Net پښتو

ساتم به داسې برابر ستا حسابونه تم
پخپل نامه به لیکم خپله خوابونه تم

بیا به په خیال کومه زه د نوی مینی آغ
د تېر مزل مې لا په یاد دي ، سرابونه تما

نوم به زما هم چرته لیك وي ، په نازکو کو
په امید ګورم ، ستا کاپیانی ، کتابونه تما

د انتظار په شپه کښې یاره! د سحار و خما ت
پاس په ښو مې را روان شي ، سېلابونه تمـ

مونږ وو ملګرې بس د لارې ګیلې څه ته بو
یاره عبث دي په دې لږ کښې حسابونه تمـ

نوے سفر ، له یوه نوې همسفره سـ
سهیله! هېر به کړي له تا تېر عذابونه تمـ

مانه د هجر شپه سهبله ! خاطر جمع شه

د مینې تبه هم د عمره سره کمه شه

چې په سرو شونډو به نې نه وړل د پېزوان باره

هغه جینۍ هم د حالاتو سره سمه شه

کمال نې وکړو ، په زړو ستر ګو ئې بیا وتښ

زهٔ مطمئن وم چې زما له خوا بې غمه شه

هسې مې وکړله د مینې سنجیده حبـ
له خندا شنه شوه ، په ملا ماته شوه ، بې دمه شوه

که خدای کول ژر به تیار شي د غمونو قصر
د زړګي زمکه مې نن بیا په اوښکو نمه شوه

Pukhto.Net
پښتو

که بې یاره لیدل غواړې د چا سترګې
خدای دې اوباسي همخولو زما سترګې

انتظار مې په ښو شو لکه اوښه
شي به کله پخولا ستا بې وفا سترګې

ژړا راشي چې سهیله ! را په یاد شي
آماشومې ، حیا ناکې ، صفا سترګې

ضرورت که د غم نشته اندېښنې
نور به څه ورکړم راغلی مېلمنې

لېونتوب مې را په زړه شي ستا د سپې
دا چې ډېر ډېر ګورم ماتې خولې

د بېلتون په تورو لویو درنو شپو کې
مړکنې یم خپله یاره ! که منې

# LOVE MARRIAGE

زۀ به اوس څه په یاد سړ
زۀ به څه فخر اوسړ
چاته به ذکر اوسړ
څوك به ئې اومنی ته
ستا خو بې کچه مینه
صرف له ماسره وه

ولې چې ستا په حقله

هر یو سړی دا وايي

چې

"لو مړج وکړه

هغې ځېږه

چې تا د ځان کړله"

نه چنبیلي ، نه د ګلاب ښکلو ګلونو په شار

د خواهشاتو دا موسم ، سپېره رنګونو په شار

په هرې خوا ځهرې ، یادونه ، خواهشونه ، هـ

هجوم په زړه کښې وي همېش، د بازارونو په شار

په ښکلا ګانو ډک ژوندونه ! ستا په سر مې نس

نه خوب د خوب ، نه مې تعبیر د تعبیرونو په شا

Pukhto.Net پښتو

تول خدوخال می شاید یوورو د غمونو سیې
ښکارم په فریم کښې ګرځ وهلي تصویرونو په شان

صرف زما دا تجربه ده ، د غمونو په شان
ژړا د اوښکو وي خوره ، د بلبُونو په شان

وفا ، یادونه ، مینه نن ، زما د زړه په کتا
سهیله ! ښکاری اوبو ورو تحریرونو په شان

Pukhto.Net
پښتو

حسرت ئې پاتې نه شو، سجده مې ډېره وه
مینه مې پټه لېره، ښکاره مې ډېره وه

پرون چې وتخنېدم ، ستا په حسینو شوې
بچیان مې سترګو ته شو ، توبه مې ډېره وه

بې تا چې مړ نه شومه ، یاره بې قوله شومه
عشق مې تر سره نه کړو ، وعده مې ډېره وه

لکه وجود می نه وي داسی دی هېر کړمه
سترګی می شولې لمدې ، ګیله می ډېره وب

دي ویر لړلی لمحې ، په انتظار ، سهسل
زیاتې و کور ته خمه ، مېله می ډېره وب

Pukhto.Net
پښتو

Pukhto.Net

چې مې اوښکې کهکشان شي ، د فراق په توره شپه تېږي
ستا حسينه څهره ګورم ، د خپل کور په دريڅه تېږي

داسې نه يم ، لکه زه چې مطمئن ، پُرسکون ښکارم
د اتڼ غوندې تاوېږم ، د غمو په دائره تېږي

زياتې خمه رخصت راکړئ ، تر دوزخ بترو ورځو
منتظره توره شپه ده ، زما د کور په دروازه تېږي

زما د غم قیصې دې ډېرې ، مختصر دا درته وایم
څه به خپل کړه وړه راتول کړم، کریچې کریچې ائینه شپې

ستا د هجر په لمحو کښې ، دومره هم پوځی نه یم
لا لرمه څو خوا خوږې اوښکې یاره ! په لېمه شپې

بې خلوصه ټول ملګری زما په وار دې اے سهیله
زه تنها وم ، زه تنها یم ، د یارانو په حلقه شپې

شمو : شموه

Pukhto.Net
پښتو

## حساب

راشه حساب اوکړه
ته خپله مینه راوړه
زه به خلوص راوړم
انصاف به بل څوك اوکړي

زما د مینې حساب
هغه به بیا اوکړه !!

Pukhto.Net پښتو

Pukhto.Net
پښتو

# لېوې

مونږ لېوني نه يو، نو څه يو؟
چې [illegible]
ګلاب ګلاب خندا ته اېښـ
د زړګي وينې
او به خور ور سو

ښځي يو ستړي، لږ آرام يکړ ـ
سفر شو ډير، اوس خو ماښام يکړ ـ

اول ښه وخاندی، بيا دا اوواييې
زمونږ تر مينځ لږ احترام يکړ ـ

د مينې ټولو گناهگارو ـ
د سزاگانو اهتمام يکړ ـ

څوك به دی نه مني ظالمه دختنه
تا ته خو لرې نه سلام پکار ...

له دې ازغن ازغن ماحوله څخه
ګلونو! ګورئ ، انتقام پکار ...

سهيله ! زمونږ د ژوند په دې برخه ...
د خواهشاتو كار تمام پكر د...

Pukhto.Net
پښتو

Pukhto.Net
پښتو

څه پوښتې د سترګو حال ،حال به درته اووایې
دا په اوښکو لوند دسمال ،حال به درته اووایې

څه چې تري پوښتل غواړې ، لړ یه تسلی سه
زړه دې د بچي مثال ، حال به درته اووایې

اووایه د زړه کتاب ، لږ یه توجه سه
زما د ژوند د هر یو کال ، حال به درته اووایې

خلک دي بلا ذهین ، دلته د میس سړ
پټه خوله په ډېر کمال ،حال به درته اووا

خَنکه سره اورونه تل ، یاره! ستا جمال پا
ستا خوله خوله دا خال ، حال به درته اووا

دُسمال : دستمال ، روما

ما په ببله هم لېدلی و تخنېری د چا خیال ..

خیر خیر ګوری په حیرت تل ، آئینه ستا و جماز ..

زهٔ د وخت لمبو وهلے ، د ارمان لمر سوخو..

زما په برخه سیورے نشته ،هیله څه اوکړم ستا شاز ..

یم حیران د مخ سپوږمۍ ته ، یاره ! ستا ښکلی خوانې ..

توره سپین کښی بلاخوند کړي ،څکه ډېر کورم وخاز ..

نه بې صبره زړه صبرېږي ، نه زما اوښکې وچېږي
راشه ، برخه مې سکون کړه ، هوسېږم ستا وصال ته

خدای زرغون کړو په بهارکښې،دزړه داغ په انتظار کې
ورکوم اوبه د اوښکو ، زه د بخت و دې نهال ته

زندګي خو زندګي ده ، بلا هره خوشحالي ده
بلوې لمبې سهېله ! حېرانېږم يخ شمال ته

Pukhto.Net
پښتو

## څپې

ښه مې په یاد دي خوره یاره!

چې یوه ورځ د سمندر په غاړه

په خړو شګو باندې

تا زما نوم

پخپلو نرمو نازنینو ګوتو

په ناز لیکلې

خو ظلم نو،
یوې څپې ، یوې بې رحمی څپې
د سمندر یوې ظالمی څپې
زما نوم وران کړو آخ
بیا د حالاتو څپې هم
زما له زړه څخه
ستا نو
د غلط حرف په شان
وران کړو ، د ټول عمر د پاره
خبر نه یم ولې؟

د زړهٔ په خوا هجر په لاره شاب

زمونږ په برخه انتظاره شاب

رښا د اوښکو سره ګډه شه

سترګې مې ړنې کړې، سحاره شاب

کوشش مې ډېر اوکړو، خو هېر مې نه بړ

هغه سړے، د زړهٔ قراره شاب

ځنګه په خوانه خوانۍ ستړی شو

ژوندون زمونږ په اوږو بار و شا

څوك قبلولے شي سزا د ځه

سهیل د مینې ګنهګار و شا

قاتل خوئې ، پېغور به څه دړنو

سر خو مې درکړو ، نور به څه دړنو

اے ښکلے یاره ! دا وختونه نور نه دي
نه مې غم نه ئې ، زما غمونه نور نه دي

یا خو غلط دے انتخاب د لارې
یا تر منزل پورې بسونه نور دي

که خبر نه ئې ځان خبر کړه په زړه
خوبونه نور او تعبیرونه نور دي

اې د هجران ځپلو خلکو! واورئ
لا به نور ژاړئ، لا آهونه نور دي

ملګري وي اوښکې آهونه همېش
په غم کښې وینم چې خوندونه نور دي

د زړو دننه مړاوې زېړ رنګونه
بهر په خلکو موسمونه نور دي

Pukhto.Net
پښتو

د ظلمتونو، د اورونو ، د قتلونو
هر یو سحار راوړي اخبار د سرو زخمونو

ربه! بس ستا په لوری ګوری زخم زخم خلک
غواړی په ژوند کښی ، په خوشبوی ډک دګلونو

دا مو دلیل د ترقی دے چې په یو ساعت کې
تر لری لری ورسیږی د بمونو

نه یم خبر چې په کوم حال کښی به وي ، څنګه به وي
ما له به څوك راوړي زما د ارمانونو سر

سهیل جعفره! عجیبه خلک یو مونږ شاعران
اوسو په زمکه خولړو د اسمانونو سر

لړی لړی : لړی لړی

Pukhto.Net
پښتو

نشته په مینځ کښې موټروون ، خبرې ولې نو

پـه نفـرت ګورې ، په لمسون ، خبـرې ولې نو

چې نه لـري ادراك د هجـر د آوردو ورځو

هغـه سـړے بیـا د بېلـتـون ، خبـرې ولې نو

لـه هـغـه کـس سره لـرمـه د مُـودو اختـلا

چې ماتـوي زړهٔ ، د سکـون خبـرې ولې نو

ولې د زړهٔ کیفیونه ، پټولې نه شې
دا پاګل مخ مې د درون خبرې ولې سو

دتنهائي وژلې يو معصوم سړې سهمله
که نا پوه نه دې ، د جنون خبرې ولې نو

Pukhto.Net
پښتو

# دروغ

هجران څه دے

بېلتون څه دے؟ څه به اوکړو!

ته هم وايې

زه هم وايم

وهر چا ته زه هم خاندم

ته هم خاندې

وهر چا ته زه هم وايم چې "خوشحال يم"

ته هم وائې، "ډېره ښه يم"

کله کله زمونږ په سترګو ښې

دا اوښکې چې عزیزې

" د غم نه دي "

ته هم وائې ، زهٔ هم وايم

دا شاید چې رښتیا نه دي

زهٔ منم

زهٔ منم چې دروغ وايم

ته منې چې دروغ وائې

کله کله رانه هېرېږي ، ذهن به وي ، احساس به وي

کله کله دا زړګی مې ، ستا په یادکښې اُداس به وي

لویه خدایه ! د حالاتو دا په کُوم مقام ولاړ یم

یا به اوسو باضمیره ، یا به کور او لباس به وي

په مونږتل وي څُکه مونږ ته څه به تریخ وي څه به ګران وي

تل چې خاندي و هغو ته ، د غمونو احساس به وي

څـه علاج ، څه به ملهـم وي ، څـه دارو څه بـه درمـل وي

د غـمـو کـوټـلـی زړهٔ تـه ، د اوبـو ډك ګلاس بـســه وي

مـرحـلـه د لېـونـتـوب وي ، کـه پـوهـېږې ، شـاعـری مـې

نـه غـزل نـه بـه وي نـظـم ، کـه سهـیـلـه!حـواس بـسه وي

Pukhto.Net
پښتو

چې کله شپه شي ، ستا د لورې راورې باد ، ګلهب
په ویران زړه کښې مې زرغون شي ستا د یاد ګلهب

مونږ ته ئې راکړه ، د نصیب له ازغو ډکه لمر
ستا ئې په سترګو ، په شونډانو کړل آباد ګلهب

تا انتخاب کړو کهکشان ، د خپل ګېسو د یهب
دسیه بختو په لاسو کښې شول برباد ګلهب

سوچ خو پکار دے په جهان به ئې څه نوم پانه ر ـ
که د شودو په ځایِ راوری وے فرهاد ګلهٔ

خنکه قبول کړمه په مینه ، ستا د لوری ارے
د محبت ګلهٔم سهیلـه ! زهٔ بنیاد ګلهٔ

لاسو : لاسو

Pukhto.Net
پښتو

ستا په بېلتون پسې اوس دغه حادثه ده ګ ا

چې مې لـه ځانه سره ګرانه ! رابطه ده ګ ا

ستا دجفا وروسته به هم ، تا هېروڵې به

ښکلې جينۍ !د مينې دغه ضابطه ده ګ ا

بحال کېدلې خوشې بيا . د مينې زور تعـ

څوك به اول کوي آغاز ،دا مرحله ده ګ ا

Pukhto.Net

دا ستا د ښکلي مينې تنده ، تن په يل مانو
ماته د نوي ژوند دا نوی تجربه ده ګرانه

ستا د هجران په موسمونو بيا بهار عوريږي
راشه چې درخته د يادونو زرغونه ده ګرانه

مجاز به څنګه جوړومه ، د غمونه خلاف
په اېکېږ سر، د دې لښکر مقابله ده ګرانه

سهيله ! ماته په ژوندون کښې د سکون دپاره
د غم په شان د ښه ملګري فاتحه ده ګرانه

اېکېږ : پوانی

## یاد

غوټۍ د یاد

په نیمه شپه چې ګلېږي

ګل شي یاد

زما له سترګو

شبنم اوري

تر سحاره پورې

## تمنا

خومې

بې وسۍ کښې مې دعا اوب

اوښکې مې ملګرې نږد

از

ستا مې تمنا اوب

قسمتونه چې ډېر غلي دي ، پوهېږ
ستا له دره مايوس تللي دي ، پوهېږ

د چمن تازه تازه سمسور گلونه
د موسم غمو وهلي دي ، پوهېږ

څه به وکړي په ما باندې د يار غمه
ډېر مې ستا غوندې ليدلي دي، پوهېږ

په کیلو هم خفه کېږی ، په ژړا مې
ښائسته دېر نازولی دي ، پوهېږ

اندېښني چې لیونی لیونی ګرځ
تا په زړه باندې داغلی دي ، پوهېږ

ماسره یه دې تړاند کور کښې سهلې
غم او بخت هم اوسېدلی دي ، پوهېږ

تړاند : ترېدونکې ـ ځواک

دا هم منم چې بې له تا دا ژندګې ګړانه د،
خو ستا د مینې په خبرات خو واقعې ګرانه د،

په مات زړګي ، د مات زړګي ټوټې مې مه توله
زما په ژوند کښې خو شامله بې وسې ،ګرانه : د

زیاتې به څو ، لرې د نوی منزلونو په سو
زمونږ دپاره په دې ښار کښې،اوس روزې ګرانه د،

وخت رانه هېرى کړي په خدائېکود ښانست سدرہ
نوره دا ستا پـه څهرې باندې شاعرې ګرانـه د

مـاتـه پـخوا ، زمـا افـسر دا نـصيحت کـړے
پـه دې خودداره ژونـد سـهېله ! تـرقی ګـرانـه دہ

Pukhto.Net
پښتو

و مې بانېلله خواني خپله نازنینه خلک
خاورې ایرې مې کړو ژوندون ، د چا په مینه خلک

یخې یخې دي خواهشونه ، آرزوګانې ، اوښکې
د دې ولات فضا له اصله ده واورینه خلک

ونیلې نه شم په اخلاص به مې تهمت ولګي
د یو سړي به لمن ونم خپله وینه خلک

Pukhto Net

د دغه ښار په روایاتو کښې شامل دے عمر
ښځې ارزانه دي خلوص او د چا مینه خلۀ.

دهغه مخ په خدوخال کښې ما سهیل لیدے
په ښغلتوب راغلی ، مینه تکه سپینه ، خلۀ

Pukhto.Net
پښتو

# ماته به داد راکوه

واورئ اے ښکلو خلکه
د خوشحالۍ په ښو رنګونو ښائسته مخونه
ستا سو په ميان کښې ځنګه ښکارمه ،،
بې رنګ ، د وچو زېړو پاڼو په شان
منمه ، بد به ښکارم

خو ښائسته مخونه
واورئ چې ځنګه تېروم وختونه
له توري شپې نه تر سحاره پوره
بيا له سحار نه تر ماښامه پوره
څومره لمحې ، د دوزخونو په شان
زما په وجود تېرېږي

لامده خواره په اوښو
هره غمه
هر یو مانبام، تر حلقه زه ببرو

په داسې حال کښې به څوك ژوند تېروي؟

اې په رنګيځ کښې ژوندې ښکلو څهره
اې په خندا باندې مړو، په ښادې ښادو خلکه
ماته به داد راکوئ
په څومره صبر
په همت
په حوصله ښکلوکه
ستا سو په میان کښې زه هم
ژوند ے یم، ژوند تېرو
بې خونده، ژوند تېرو

رنګيځ : قوس و قزح (دهنك) دبوږې تار

وم د عمرونو په سفر ــ پرېوتې
لکه ماشوم ، ستا په خيګر پرېوتې

قاتل ، هغه نه ؤ ، زما ويره وه
زهٔ نا بېره په خنجر پرېوتې

دواړه وو ستړی ، د رنيا په تسيم
لمر په مابنام ، زهٔ ماخيګر پرېوتې

نن مې سپوږمۍ سره سیالي اوکړه
شپه مې کړه روڼه ، په سحر پرېوس

عروج مې لاړلو سهيله ! زياتې
زوال مې راغلو ، لکه نمر پرېوتې

زهٔ د خزان بې رنګه ورځ ، ته په رنګونو آب

ته نې خوشحال په خوشحالی ، زهٔ په غمونو آب

د کور کملې ،د ښار ګلان ، د غرو واورینی څو
همېش به وي ستا د ښائست په موسمونو آب

منم وصال ـ خوب و خیال خو مطمئن یمه ،
دېوال د خونی می دے ستا په تصویرونو آب

Pukhto.Net

دا ستا د حسن پېرزوئنه ، ستا د مینې احسار
زهٔ په امید ، سترګی په خوب ، زړهٔ په یادونو آب

پېدا می نه کړو یو خواخوږ ے، یو د زړهٔ ملګر
هسی خو زهٔ یم په دې ښار کښې له عمرونو آب

سبزه د مخکې ده ښکلا ، دعا کوم سهله
د یار رخسار دی وي همېش په شنو خالونو آب.

خوږه : کوږه ــ ټیټ .
ګاڼ : ګڼه .

خواهشونه هم دېره شول ، د آهونو يه محلت تېږي
خومره دېره آبادي شوه ، د غمونو يه محلت تېږي

يا ګلاب يا خوشبوئي يم ، يا سپورمئی يم يا رڼا يم
څومره ډېر خوبونه وينم،د رنګونو يه محلت تېږي

د ظالم د ظلم وروسته ، خلک واړه مړګي حال ده
مړاوی‌مړاوی ځهري ګرځي،په کورونو، يه محلت تېږي

د هر کور په دروازه کښې ، په دېوال، په دريچه کښې
تصويرونه واړه ستا دي ،د سوچونو په محلت کښې

که بې وسه که فقير يم ، ستا په مينه شاهجهان يم
تاج محل به جوړومه ، د خوبونو په محلت کښې

د تقدير په صحيفو کښې ، نوشته دي دا سهمله
زمونږ په برخه سکون نشته،د وختونو په محلت کښې

## ژونه

ژوند به ببرېږي
زېړو پاڼه ! څنګه ؟
وختونه
سره او شنه رنګونه غواړي

## آخري اوښ

زياتي نه را

د ژوند تيارې و کو

مره به نه

آخري اوښکه

صفا لیکلې ؤ تحریر ، زما په ورغوو باندې
ستا د وصال نښته لکیر ، زما په ورغوو باندې

ستا په جفا ، په ګیله من نظر ئې داسې ګور
لکه چې جوړ وی ستا تصویر ، زما په ورغوو باندې

ګیله خو نه ده ، دا پوښتنه ده اا ے تورو ورځو
لیکلې څه دي ، زما تقدیر ، زما په ورغوو باندې

ولې دُعا کښې ربه ! تل ، زما له ډکو سترګو
د اوښکو راشي بو بهیر ، زما په ورغوّو باندې

په دغه طمع تېرومه ، د ژوند پاتې ورځې
تل به لیکلے نه وي ویر ، زما په ورغوّو باندې

د چا د یاد نه علاوه ، سهیله ! بسه خبر یې
نشته بل هیڅ داسې جاګیر، زما په ورغوّو باندې

Pukhto.Net
پښتو

دابـه صحیح نـه وي ، چـې دوران وکـړنـو

مونـږ پـه ځان روا کـړو ، مونـږ په ځان وکړو

څه په زړه حساس وم څه حالات مې په وس نه و

څـه مینې تباه کـړم ، څـه جانان وکـړنـو

وختـه! زمـونـږ پـه برخـه ؤ ، پـیـکـه دوران د

نـه زنـځیـر د زلـفـو ، نـه پـېزوان وکـړنـو

یو ئې وړه سرخي زما او ستا له یارخوګ،

بیا شفق ښانسته شو، بیا اسمان وکړو

نه ښکلې زلمې وم ، نه لائق وم ستا د

تا سره مې ګلې! په ایمان وکړو

دا ستا په سر زۀ د وختونو سره وجنګېږم
ګله خوشبوئ، ګله ګلونو سره وجنګېږم

دا ستا د پاره مینه نه ده ګنې څوڅه خپل
زۀ د زړګي له نفرتونو سره وجنګېږم

ما ته اوبه، د دُعا یخې اوبه راوړئ، زۀ به
د هغه مخ د سرو اورونو سره وجنګېږم

پہ یاد می تہ دي چې ښکا د نیمې شپې و خوا ته
څنګه زۀ ستا ښکلو یادونو سره وجنګېده

سهېله! لږ غوندې ژوندون کښې د ماشوم په شان
پـه هـر قـدم د خـبرتُـونـو سـره وجنګـېده

Pukhto.Net
پښتو

## 'ALENTINE DAY

ولی به کارډ دراسو

ولی تجدید به نو

ته پښتنه ې

زه پښتون یم ګلې

زمونږ اقرار، یو ټینګ اقر

وعده، پخه وعده وې

مونږ ته د دې ورځې لمانځ

یا د مینې تجدید

هیڅ ضرورت نه لرې

Pukhto.Net

# انتظار

یو څو یادېږي
بل په زړه ورپېږي
په نیمه شپه
څېره دې سترګو ته را مخامخ شي
زه بیا په چیغو چیغو اوژاړم

دا زړه چې سپک شي، کله ستا له غمه
زما تندے ستا د شونډانو د سرې
بیا منتظر وي
منتظر وي ولې؟

خاردې تمه
هېر دی کړه

لېونی شو
ورک شي غمه

غم زمانې
زه منمه

خداې مې نه ي
اے صنمـــه

زوړ شــوم يــار د
ستــا پـه صـمـ

Pukhto.Net
پښتـــو

حق هـرګـز نـه لـرم ګلـې ! خـو د زړهٔ أداس دپـاره
ستا د مينې ضـرورت دے ، د خـورمن احساس دپـاره

خان کړېدلے، د ښلتون په سره انکار غواړے
اضطراب نور هم زما زيات شي چې قرار غواړے

زهٔ پخپل کور يم که دياندې، که تر خاورو لاندې
په دغه ښار کښې د خپل ورك وجود مزار غواړه

د ښلتانه دا توري شپې، تر زلفو توري تيارې
بخته! لاس پورته کړه له ما سره، سحار غواړه

خنکه حبس وهلی زړه ته ، یخه هوا اوغواړ
شونډو ته نغمې، ذهنو ته سپینه رڼا اوغواړ

یا به زه سجده درته کوم ، په تنګ نظرو [illegible]
یا به خپل زړګي لره د صبر دعا اوغواړ

وخت می مخالف دے، بخت کونه، په دعا ستړے شو
خدایه هم مرور دے کلې! تا به له چا اوغواړ

ستا د رخسارونو رنګ مې ورکړو و ګلونه ته
دې سکښې مابنام ته ، ستا د سترګو ښکلا اوغوړه

ډهنو : ډمنو

Pukhto.Net
پښتو

نور هنر نه لرو ، د زړه به ګو
که مینه نه کوؤ نوڅه به ګو

مونږ د ماشوم غوندې يو ضد اخستې
چې کوم ستا خوښ نه وي هغه به ګو

زمونږ د زړو رونق ته خلکو! بازارونه څه و.
جینکې څه وې، تپې څه وې، ګودرونه څه و.

څنګه مې تېر کړلو بې خونده ژوند، خبر پرې نه و
ولې خفه وم، مسئله څه وه، غمونه څه و.

ستا د تندي، ستا د رخسار، ستا د سرو شونډو مخ ...
ستورې، سپوږمۍ، لمر، کهکشان، رڼا، رنګونه څه و.

زړو: زړون

زما د کرب و تماشې ته ، جهانونه دی لږ راشي
ستا یادونه مې ایره کړو ، اوس یادونه دی لږ راشي

قسم خورمه ، داسې نه ده ، چې صابر یا شاکر نه یې
ما لیدلی نه دي یاره ! بیا وختونه دی لږ راشي

دا سوچونه دی غلط دی چې به مات شم یا به مړ سي
څه به اوکړي په ما باندی ، ستا غمونه دی لږ راشي

د دښمن دويم فريق يم
پخپل قتل کښې شريک يم

څه به پټ کړمه خان خدايه
هم ګناه يم، هم تصديق يم

زه سهيل يم خطا کړه
نه علیؓ يم، نه صديقؓ يم

# لېوې

خبرې ټولې په ظاهر
د نفرتونو لوري
خو
خپلو سترګو کښې هم
د کوششونو باوجود
د مينې پټ سمندر
پټولې نه شي

Pukhto Net

هغه غمونه ، تلوسې ، هغه بې وسه ژوندو

هغه حالات ، هغه لمحې ، هغه بې وسه ژوندو

هغه تنهاکي ، هغه زړه ، هغه ارمان ، هغه ،

هغه د فکر ځولنې ، هغه بې وسه ژوندو

هغه د عمر شواخون ، هغه شهيده مب

هغه د وير ساندې ، نوحې ، هغه بې وسه ژوندو

هغه د غم ترخې سندرې ، هغه هجر ظاړه
هغه تر مرګ بترې شپې ، هغه بې وسه ژوندون

هغه سهېل ، هغه نصیب ، هغه رتخوړه ...
هغه امید ، هغه کوڅې ، هغه بې وسه ژوندون

رڼا مې نه اولیده ستا د جمال
د فراق تورو ورځو شپو اوخوړ

Pukhto.Net
پښتو

تنها تنها تل اضطراب کښې اوسم
په درد و غم ، په پیچ وتاب کښې اوس

لکه بو خاخکې ، ټول وجود مې اوب
یم سمندر خو په حباب کښې اوس

فراق ، غمونه ، سرې سکروټې ژوندو
بلا سرې یم ، په عذاب کښې اوس

مرګیه ! وار، چې زه تر اوسه پورې
دچا د سترګو انتخاب کښې اوسم

زه د هېر شوي وچ ګلاب په شانې
ستا د نصاب په يو کتاب کښې اوسم

احساس به درکړم خو ليدے مې نه شې
سهېل خوشبويم ، په ګلاب کښې اوسم

Pukhto.Net
پښتو

که جنګ ازغو سره کوو، نو څه د ګل حبنه
ملګرو! زمونږ به وي همېش دلته د تل حبسه

سفر مو لنډ کړو ، د نفرت په منزلونو بانډ
دلته نو څه دي؟ د فریب ، جفا او چل حبنه

یو ئي ورې ستر ګی ږبه، شونډي او لاسونه دوا
وائي ، وتاته درکوم ، یو مکمل سبنه

موږ هغه خلک یو ، چې مرو د ژوند په هره لمحه
زموږ د پاره به نو څه وی د اجل سبب

دګل په ښاخ دی زه ازغی یمه ، انا خو ږ
سهیله نه دی رابښي ، ماته دا خپل خیب

( زه په قوافي کښې د زور او زورکي د فرق سختی نه یم

## دعا

لویه خدایه

زه په خنکه کور کښې اوسم

نه خیمه دې

نه بنګله دې

زه په خنکه کور کښې اوسم

زما د غولي بهر خلک

دومره جګ چې تر اسمان پورې رسیږي

ساه مې بنده بنده کیږي

څه شکلونه، بد مخي

پیغورونه راکوي تر

"څه سړی یې؟

څه دی ژوند د

له راحته نا اشنا یې، له دولته نا خبر یې

څه سړی یې؟"

لویه خدایه

زه سړی یم

چس له

زړه له

که دا ژوند د سړي وي

ما ته ژوند د سړي راکړه!

جګ : دنګ، اوچت، قدآور

| | |
|---|---|
| نوم | غلام جعفر |
| قلمي نوم | سهيل جعفر |
| تعليم | ايم ايس سي ( جيالوجي |
| په قام | خټک |
| د زوکړې ځای | نورالاسې |
| روزګار | سينيئر پروډيوسر ريډيو پاکستان |
| تماس | ۱۳٦ سي ، بلاک نمبر ۲ |
| | سېټلائيټ ټاؤن کوټه |
| فون | ۰۸۱٤٤٤٦۱٦ |
| | ۰۳۰۰۹۳۸۸۳۷۰ |
| اي ميل | sonailjaffar@yahoo.com |
| | sonailjaffar@hotmail.com |